



د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود

# د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سپارښتنې څنګه تعقیبولای شو

د ملګرو ملتونو
د بشري حقونو
د عالي کمشنر دفتر

ملګري ملتونه

# د مطالبو فهرست


1. له دې لارښود څخه ګټه اخیستل.....1
2. تعقیبول څه دي او ولې اهمیت لري؟.....3
3. دڅه لپاره تعقیبول؟.....5
4. د تعقیبولو میتودونه او فعالیتونه.....7

1.4 د ښکیلتیا لپاره د میکانیزمونو تشخیص.....7
2.4 د بشري حقونو د میکانیزمونو د اغیز د زیاتولو لپاره د هغو د دورو په ترڅ کې ښکیلتیا.....8
3.4 د بشري حقونو د وړاندیزونو او موندنو ترتیبول.....9
4.4 لومړیتوب ورکول او پلانول.....10
5.4 د تطبیق څار.....15
6.4 خوځښت راوستل.....17
7.4 د ایتلافونو رامنځته کول او دهغو سره کار کول.....18
8.4 شراکت.....20
9.4 د اطلاعاتو خپرول او د پوهاوي لوړول.....23
10.4 مدافعه.....26
11.4 د ظرفیت جوړول او پیاوړتیا.....28
4.13 د شمولیت، تنوع او لاسرسي منعکسول.....30
4.14 په قضایې عمل او قضایې دعوی کې د سپارښتنو کارول.....30
15.4 د تعقیبي عملونو او نورو فعالیتونو د پایلو شریکول.....31
4. 16 د موجوده تعقیبي طرزالعملونو او د بشري حقونو د میکانیزمونو د فعالیتونو سره ښکیلتیا.....32

5. تعقیبي طرزالعملونه او د بشري حقونو د میکانیرمونو فعالیتونه.....33

5.1 د بشري حقونو د تړون ارګانونه.....33
2.5 د بشري حقونو شورا.....38
3.5 خاص طرزالعملونه.....40
4.5 نړیواله دوره يي بیا کتنه.....47
5.5 هر اړخیز روش.....49
6.5 غچ اخیستنې.....49

6. زیات څه زده کړئ.....51
7. زموږ سره اړیکه ونیسئ.....53




## 1. له دې لارښود څخه ګټه اخیستل

دغه لارښود، چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا صادر شوی، په دې ټنیګار کوي چې مدني ټولنه څنګه کولای شي د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د میکانیزمونو، صلاحیتونو یا کمیټو سپارښتنې تعقیب کړي. له هغو لوستونکو څخه چې د دې میکانیزمونو له اساسي ځانګړو سره اشنایي نه لري، غوښتنه کیږي چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا تیار شوی بل لارښود « د ملګرو ملتونو د بشري حقونو له پروګرام سره کار کول او د مدني ټولنې لپاره عملي لارښوونې» ته چې د مدني ټولنې لپاره دی، مراجعه وکړی .[1]

د دې لارښود ۱- ۳ برخې د «تعقیب» او «تطبیق» مفهومونه توضیح کوي او ۴ برخه هغه میتودونه او فعالیتونه توضیح کوي چې د مدني ټولنې فعالان ور څخه ګټه اخیستلای شي. ۵ برخه

[1] په دې پته : www.ohcr.org/EN/AboutUs/Pages?CivilSociety.aspx د لاس رسي وړ دی.

د تعقیب اوسنی طرز العملونه او د ملګرو متلونو د بشري حقونو د میکانیزمونو فعالیت تر بیا کتنې لاندې نیسي او ګوري چې د مدني ټولنې غړي څنګه په کې برخه اخیستلای شي.

لارښود همدارنګه داسې ابزارو ته اشاره کوي چې د مدني ټولنې د تعقیبي فعالیتونو لپاره اسانتیاوې برابروي. دغه ابزار په ۶ برخه کې ځای شوې دي.

د بیلا بیلو تعقیبي روشونو او فعالیتونو د بیا کتنې له لارې چې د تجربو پر بنسټ ولاړ دی او د مدني ټولنې د فعالیتونو[2] او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر ساحوی تجربې په کې نغښتې، لارښود د امکاناتو یو لست وړاندې کوي، چې د مدني ټولنې فعالان د خپلو لومړیتوبونو او وړتیا پر بنسټ له هغو څخه انتخاب کولای شي.

دغه لارښود په اصل کې د مدني ټولنې د هغو فعالانو لپاره په پام کې نیول شوی چې په ملي کچه فعالیت کوي. لارښود په عربي، چینایي، انګلیسي، فرانسوي ، روسي او هسپانوي ژبو د لاس رسي وړ دی. دغه لارښود په افغانستان کې په دري او پښتو ژبو کې هم ترجمه شوې دي.

---


[2] د قضیو د مطالعی شاملول د OHCHR د تائید په معنی نه ده.

## 2. تعقیبول څه دي او ولې اهمیت لري؟

د تعقیبولو فعالیتونه دا باوري کوي چې د بشري حقونو د میکانیزمونو او ارګانونو سپارښتنې او پریکړې عملي شوي دي څو د ټولو لپاره د بشري حقونو په درناوي، ساتنې او بشپړولو کې ښه والی راشي.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو میکانیزمونه او ارګانونه د دې لپاره فعاله دي څو د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د بشري حقونو عملي کول بهتره کړي. هغه پریکړه لیکونه چې د بشري حقونو د شورا له خوا تصویب شوي دي، د پلټنو د کمیسیونونو موندنې، د نهادونو سپارښتنې، ځانګړي طرزالعملونه او نړیواله دوره یي بیا کتنه او دمنفردو قضیو په اړه د نهادونو پریکړې چې د ټولو موخه د ساتنې په لړ کې د تشو ډکول او هېوادونو او نورو شریکبانو ته د د اسې لارو چارو په ګوته کول دي چې په بشپړ ډول بشري حقونه عملي بڼه غوره کړي. د ټولو دغو موندنو، سپارښتنو او پریکړو موخه داده چې د ټولو حقدارو په ژوند کې ښه بدلون راشي. د دغه بدلون د عملي کولو لومړنی مسوولیت د دولتونو پر غاړه دی چې دنده لري د بشري حقونو درناوی، حفاظت او تعمیل تر سره کړي. په هر حال د ټولنې ټولې برخې، د افرادو څخه واخله تر خصوصي سکتور، نړیوالې ټولنې او د مدني ټولنې غړي د بشري حقونو د تامینولو لپاره نقش لوبوي. مدني ټولنه، په ځانګړي ډول کولای شي د بشری حقونو د سپارښتنو د تعقیبولو په ډګر کې ډېر مهم نقش ولري.

## د تعقيبولو د پړاونو لنډيز



## 3. دڅه لپاره تعقیبول؟

د ملګرو ملتونو د میکانیزمونو او ارګانونو موندنې او سپارښتنې متعددې دي. مدني ټولنه هغه یې تعقیبوي چې د دوی د هدفونو او د فعالیت په ساحې پورې تړاو لري. هغه کېدلای شي په لاندې ډول وي:

- هغه سپارښتنې چې د نهادونو/با صلاحیته کمیټو له خوا د هغوی په وروستنیو هغو کتنو کې چې د دولتي اړخ له خوا د بشري حقونو د میثاق د پلي کولو وروسته د ارزونې په موخه شوي دي؛
- هغه وړاندیزونه چې د بشري حقونو دشورا د ځانګړو طرزالعملونو په ترڅ کې نشر شوي دي لکه چې د هېواد د لیدنو په راپورونو ، موضوعاتي راپورونو او د انفرادي قضیو په اړه په مفاهمو کې راغلي دي؛
- هغه سپارښتنې چې د بشري حقونو د شورا د نړیوالو دوره یي کتنو څخه یې سرچینه اخیستې ده؛
- د بشري حقونو د شورا او عمومي آسامبلې پریکړه لیکونه او پریکړې؛
- د بشري حقونو د شورا د متممو ارګانونو، لکه د مشاورت کمیټه، د شکایت طرزالعمل، د بومي وګړو د حقونو په اړه تخصصي میکانیزم، د اقلیتونو د مسلو، ټولنیزه مجتمع، د کاروبار او بشري حقونو انجمن؛
- د بشري حقونو د شورا، د بشري حقونو د عالي کمیشنر یا د سرمنشي له خوا د جوړو شوو د پلټنې د کمیسیونونو ، د حقیقت موندنې د ماموریتونو او د بشري حقونو د موقتي تفتیشي میکانیزمونو سپارښتنې؛
- هغه سپارښتنې چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر په راپورونو او مطالعو کې موجودې دي (د بیلګې په ډول د ساحوي حضور د فعالیتونو راپورونه؛ د بشري حقونو د شورا د توظیف له مخې برابرشوي  هېوادني او موضوعاتي راپورونه او مطالعې)؛
- د بشري حقونو د عالي کمیشنر او یا هم د بشري حقونو د خپلواکو متخصصینو له خوا په عامه بیاینو کې د دولتونو او نړیوالې ټولنې څخه درخواستونه.

دا د ولت او مدني ټولنې د تعقیبولو لپاره د سپارښتنو اوږد نا مکمل لړ لیک دی. د ملګرو ملتونو د میکانیزمونو سربیره، دبشري حقونو سیمه ییز او ملي میکانیزمونه هم راپورونه او وړاندیزونه نشروي چې موخه یې د بشري حقونو تامینول دي.


دا چې په څه باندې تمرکز وشي، دا مهمه ده چې په جلا جلا توګه تعقیب تر سره شي. په داسې حال کې چې د بشري حقونو بیلابیل میکانیزمونه د تعقیبولو لپاره خپل ځانګړي طرزاالعملونه او

فعالیتونه لکه چې د دې لارښود په ۵ برخه کې توضیح شوي ده، لري، یوه له اضافه شوو ارزښتونو څخه داده چې مدني ټولنه کولای شي د تعقیبولو لپاره هر اخیز واحد روش غوره کړي.

دغه هر اړخیز روش د بشري حقونو د میکانیزمونو څو اړخیز والی او جامعیت کاروي، د دې پر ځاي چې د یو ې برخې په وړاندیزونو تمرکز وشي. دا د هغوي د کار د ټولو پړاوونو په لړ کې د بشري حقونو په میکانیزمونو کې د ښکیلتیا زمینه برابروي. د بشري حقونو میکانیزمونه په داسې یوه دوراني شکل کې کار کوي چې کېدلای شي په لاندې مرحلو کې ساده شي: د معلوماتو راټولول، راپور ورکول، د اړوند هېواد د دولت سره ډیالوګ، وړاندیزونه او تعقیبول.

د مدني ټولنې د تعقیبولو کار په هغه صورت کې ډېر اغیزمن دی کله چې هغه د ټول بهیر او پروسې لپاره وي. په داسې حال کې چې د بشري حقونو د میکانیزمونو د هر دور د فعالیتونو د ټولو پړاوونو په ترڅ کې د متداومې ښکیلتیا له لارې ډېرې نتیجې تر لاسه کېدلای شي، د مدني ټولنې فعالان کولای شي چې د بشري حقونو د میکانیزمونو د پایلو او وړاندیزونو څخه په ګټورتیا سره پرته له دې چې تر دې د مخه په کې دخیل وي مستفید شي.

### د بشري حقونو د میکانیزمونو دوران




# 4. د تعقیبولو میتودونه او فعالیتونه

په دې برخه کې د مدني ټولنې د تعقیبولو لپاره ځینې میتودونه او فعالیتونه د تیر مهال د تجربې د ځینو تشریحاتي بیلګو سره یو ځای طرح شوي.

## 1.4 د ښکیلتیا لپاره د میکانیزمونو تشخیص

کوم میکانیزم تر ټولو زیات اغیز لري؟ د ځانګړو طرزالعملونو اختیار لرونکو له خوا هېوادنی سفر؟ هغه وړاندیزونه چې د دولتونو له خوا د نړیوالې دوره یي کتنې او اړونده سیاسي بهیرونو په ترځ کې درته رسیدګي شوې؟ یا دا د یوه منفرد شکایت په اړه د ټرون د نهاد له خوا یوه پریکړه ده؟ دا ممکن د پورتنیو مواردو او یاهم له نورو مواردو څخه ترکیب شوي وي. د بشري حقونو د میکانیزم یو اضافي ارزښت د بشري حقونو د موضوعاتي مسلې او یا په یو هېوا د ، سیمه او قلمرو




کې د مدني ټولنې په کار کې څه را منځته کولای شي؟ د بشري حقونو د میکانیزمونو سره ښکیلتیا څنګه د بشري حقونو د غړو د لومړیتوبونو ، پلانونو او ظرفیت سره په سمون کې راتلای شي؟

د دې تحلیلول چې یو میکانیزم څه وړاندې کولای شي او د هغو په موندنو او وړاندیزونو پوهېدنه د لاندې مواردو لپاره بنسټیز اهمیت لري: ۱) د دغه ډول میکانیزم/ میکانیزمونو سره د مدني ټولنې

د ښکیلتیا په اړوند پریکړه کول؛ ۲) د دغه دول ښکلتیا تنظیمول؛ او ۳) د مدني ټولنې د غړو په ستراتیژیو او کاري پلانونو کې د دغې شان ښکیلتیا یوځای تر سره کول.

## 2.4 د بشري حقونو د میکانیزمونو د اغیز د زیاتولو لپاره د هغو د دورو په ترڅ کې ښکیلتیا

تجربې په ډاګه کوي چې د بشري حقونو د میکانیزمونو سره د مدني ټولنې تعامل هغه مهال ښې پایلې تر لاسه کوي کله چې هغه د بشري حقونو د میکانیزم د کار د دورې د ټولو مرحلو سره یوځای وي. د بیلګې په توګه کله چې د کتنې او ارزونې لاندې دولت ته د نړیوالې دوره یي کتنې په موخه معلومات وړاندې کیږي، مدني ټولنه کولای شي په هغو مسلو تمرکز ولري چې د هغو په اړه زیات اندیښمن وي، که دا د ماشومانو بدني مجازات وي او یا هم د اقلیتونو سره تبعیض کول وي. هغوی کولای شي چې لومړی د خپل حکومت سره ډیالوګ پیل کړي او بیا وروسته د غړو دولتونو د هیئتونو سره چې د نړیوالې دوره یي کتنې په داخلي فعال ډیالوګ کې ونډه اخلی، ډیالوګ پیل کړي او هغوي وهڅوي څو د دغو مسلو په اړه وړاندیزونه وکړي. د نړیوالې دوره یې کتنې د پایلې سند کولای شي چې دغو وړاندیزونو ته انعکاس ورکړي، او بیا هغه کېدلای شي چې په ملي کچه وکارول شي څو د مدني ټولنې مدافعه او نورو فعالیتونه تقویه کړي.

دغه ډول پروسې د نورو میکاینزمونو سره هم کاریدلای شي. دا کیدلای شي چې د هغو د اندیښنې وړ مسلو په اړه د مستند شوو او موثقو معلوماتو د برابرولو د لارې وشي چې مدني ټولنه کولای شي چې د د ې امکان زیات کړي څو دغه موندنې او وړاندیزونه قوي ، اړوند او متمرکز وي. ښه ترتیب شوي وړاندیزونه د دې امکان برابروي چې په اسانۍ پلي شي ، د بشري حقونو د ساتنې هغو تشخیص شوو تشو ته ځواب و وایي چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د ارګانونو له خوا نشر شوي دي او په ملي کچه د مدني تولنې د مدافعې لپاره اهمیت لري.

## 3.4 د بشري حقونو د وړانديزونو او موندنو ترتيبول

د بشري حقونو د ميکانيزمونو سپارښتنې او موندنې، که موضوعاتي دی او ياهم هېواد نۍ، شمير يې ډير دی. د علاقې وړ جغرافيايي ساحو پر اساس د هغو د لارې کيدلای شي چې د تعقيبولو لپاره هر اړخيز او جامع روش را منځته شي. د سپارښتنو او موندنو د طرحې د لارې کېدلای شي چې :

- سپارښتنو ته رسېدنه ممکنه شي؛
- پوهاوی زيات او د سپارښتنو د خپرولو سره مرسته وشي؛
- د موجودو سپارښتنو هر اړخيز او ټوليزه کتنه وشي او په دې توګه د تعقيبولو لپاره يو جامع بنسټ جوړ شي؛
- د پلي کولو او تعقيب لپاره لومړيتوبونه تسهيل شي؛
- د دې لپاره د يو بنسټ په توګه وي چې د پلټنې او څارنې پلان جوړ شي.

په دغه پروسه کې لاندني ابزار کاريدلای شي:

### د نړيوالو بشري حقونو شاخص

**د نړيوالو بشري حقونو شاخص**[3] يو انلاين ډيټابيس دی چې د تړون د نهادونو ، ځانګړو طرزالعملونو او د نړيوالې دوره يي کتنې څخه وړانديزونه ترتيبوي. دغه شاخص کارونکو ته د دې امکان برابروي څو د تړون نهاد، ځانګړو طرزالعملونو او د نړيوالې دوره يي کتنې وړانديزونو ته د ګڼ شمير کتګوريو د لارې رسېدنه ولري او هغه وپلټي: دولت، حق، ارکان، اغيزمن شوی شخص، زماني چوکاټ او د نړيوالې دوره يي کتنې لپاره هغه دولت(دولتونه) چې هغوی سپارښتنه کړې ده، د کتنې لاندې د دولت دريځ، او غونډه. په ډيټابيس کې د څو کليکونو سره پلټونکي کولای شي د هر ځانګړي حالت په اړوند د بشري حقونو د عملي کولو د وضعيت په اړه د ملګرو ملتونو د ارګانونو او ميکانيزمونو ارزونې وګوري. داد بشري حقونو په اړه په لا زيات شفاف او د لاس رسي وړ ډول د ملګرو ملتونو معلومات وړاندې کوي.

### په منځنۍ آسيا کې د سپارښتنو طبقه بندي

په قرغزستان کې د منځنۍ آسيا لپاره د بشري حقونو د عالي کميشنرۍ سيمه ييز دفتر د يوې اکاډيميکې موسسې ملاتړ کوي څو د حق پر اساس د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د ميکانيزمونو د طبقه بندۍ يو لنډيز چمتو کړي چې په کې هغه سپارښتنې هم شاملې دي چې د تړون د نهادونو ، ځانګړو طرزالعملونو او د نړيوالې دوره يي کتنې څخه يې سرچينه اخيستې ده. د دې څخه د يو اساس په توګه کا ر اخيستل کيږي څو د سپارښتنو د عملي کولو لپاره پلان برابر او کار تر سره شي.[4]

---

3 http://uhri.ohchr.org/

4 د دې بشپړه برخه په دې پته د لاس رسی وړ دی: www.auca.kg

## 4.4 لومړیتوب ورکول او پلانول

د مدني ټولنې غړي کولا ی شي چې ځینې سپارښتنې د نورو په پرتله لا زیاتې اړوندې وبولي. ځینې ممکن د مدني ټولنې د فعالانو د موضوعاتي او یا هم جغرافیایي لومړیتوبونو سره سراوکار ولري او نور یې هم نه. همدارنګه ځینې یې په آسانۍ سره تعقیب کېدلای شي، په داسې حال کې نور یې سرچینې په کار لري چې موجودې نه دي. ځینې سپارښتنې کېدلای شي چې د چمتو والي د هغه کار پایله وي چې د بشري حقونو د میکانیزم سره د مدني ټولنې له خوا یې مسوولیت اخیستل شوی وي. د دغو سپارښتنو تعقیبول د ډېر امکان له مخې لومړیتوب کې راتلای او د مدني ټولنې په ستراتیژیو او کاري پلانونو کې شاملېدای شي.

### په کاناډا کې د خصوصي فعالینو له خوا ترسره شوې شکنجه او ناوړه سلوک

په ۲۰۱۱ کې د کاناډا د ښځو د پوهنتون د فدراسیون ۱۱۰ کلپونو د کاناډا پر حکومت د دې لپاره فشار راوړ شو چې په ځانګړې ډول هغه شکنجه چې د خصوصي فعالانو له خوا تر سره کیږي یو جرمي عمل وګڼل شي.

د کانادا د جزا قانون د دولتي فعالینو له لوري د شکنجې عاملین تر محاسبې لاندې نیسي. کله چې افراد د شکنجې د دغه ډول اعمالو له امله د خصوصي افرادو له خوا ځوریږي لکه کورنی خشونت، نو دغه ډول افراد د شکنجې د جرم په تور تر پوښتنې لاندې راځي.

د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې د کاناډا د ښځو د پوهنتون د فدراسیون د شکنجې پر خلاف کمیټې ته یو ضمني راپور وړاندې کړ. د کاناډا د ښځو د پوهنتون د فدراسیون غړو په ژنیو کې د کمیټې د مۍ د میاشتې په غونډه کې ګډون وکړ. د کاناډا د ښځو د پوهنتون د فدراسیون دوو غړو په تبصره کې وویل: « موږ واوریدل چې کمیټې د کانادا د حکومت د هیئت غړو ته د دې پخلی وکړ چې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي ځینې شکلونه د شکنجې ځرګندویه دي کله چې هغه د غیر دولتي فعالینو له خوا تر سره شي او داچې دغه د شکنجې او نورو ظالمانه ، غیر انساني یا تحقیرونکي سلوک او مجازاتو پر ضد کنوانسیون لاندې راځي. داد جنډر د برابرۍ او د ښځو او نجونو د هغو حقونو چې پرې سازش نه کیږي په لړ کې یو ناڅاپي پرمختګ و چې هغوي به تر هغې شکنجې لاندې نه راځي چې د غیر دولتي فعالینوله خوا ترسره شوې وي. د شکنجې پرخلاف د کمیټې وروستني ملاحظات زموږ لپاره یو ستر پرمختګ و او موږ وکولای شو چې د هغو ځخه د خپل کار په جریان کې ګټه واخلو.» کمیټې د وروستنیو ملاحظاتو په تعقیب د کاناډا د ښځو د پوهنتون د فدراسیون کمسیون ته د ښځو د حالت په اړه یوه لیکلې اعلامیه وسپارله او د نړیوالې دوره یې کتنې لپاره یې د شکنجې او هغه ناوړه سلوک په اړه چې د خصوصي افرادو له خوا ترسره شوې وي د کاناډا د نړیوالې دوره یې کتنې (UPR) ته د شکنجې د منع کنوانسیون(CAT) د وروستنۍ مشاهدې پر اساس د اظهاراتو ملاتړ وکړ.

د بشري حقونو د میکانیزمونو د کاري دورې په پخوانیو پړاوونو کې په ښکیلتیا یا نه ښکیلتیا سره ، د مدني ټولنې غړو ته دا ځرګنده شوه چې د موجودو سپارښتنو او موندنو په لومړیتوب کې راوستلو سره او د هغوي د خپلو بشري حقونو د هدفونو تشخیص د دې لپاره چې د تعقیبولو

واقعي پلانونه طرح شي یو مهم ا قدام ګڼل کیږي. د مدني ټولنې غړي د سپارښتنو د شاخصونو د لاندې **بیلابیلو ټولګو** څخه کار واخلي څو چې سپارښتنو ته **لومړیتوب** ورکړي :

- هغه سپارښتنې چې د بشري حقونو د میکانیزم او یا هم ارګان له خوا کومې چې د بشري حقونو فعالینو ته واک ورکوي بیان شوي وي؛
- هغه سپارښتنې چې دمدني ټولنې د غړي د موخو او فعالیتونو سره په سمون کې وي چې د هغوي د تعقیبولو چارې د هغوي د کاري پلانونو سره په واقعي توګه یوځای شوي وي؛
- سپارښتنې او موندنې چې د بشري حقونو د قانون د توضیح او پلي کولو لپاره د نوي پرمختګ په توګه وي؛
- هغه سپارښتنې چې د هغو پلي کول کېدلای شي د یو شمیر واقعیتونو له مخې غوره وي ( د بیلګې په توګه هغه چې د دولت له خوا یې پلي کول غوره وي؛ د نړیوالې ټولنې له خوا فشار او یا ملاتړ؛ د سرچینو موجودیت)؛
- هغه وړاندیزونه چې مدني ټولنه کو لای شي د نورو سره په ایتلاف کې د هغوي تعقیب تر سره کړا ی شي؛
- هغه وړاندیزونه چې د هغو پلي کول کېدلای شي د مدني ټولنې د غړو له خوا اندازه شي ؛
- هغه سپارښتنې چې کېدلای شي د مدني ټولنې د غړو د اقدام پرته په بل ډول له پامه غورځول شوي وي؛ او
- هغه سپارښتنې چې په ځانګړي ډول مدني ټولنې ته راجع شوي وي( د بیلګې په ډول د ځانګړي راپوروړکوونکي هغه سپارښتنې چې د بشري حقونو د مدافعانو په اړه د مدافعانو ټولنې ته راجع شوي دي).

**د نړيوالې دوره يي کتنو د سپارښتنو د جنډر او جنډر د هويت پر اساس د عدم تبعيض د موضوع لپاره لومړيتوب ورکول**

د نړيوالې دوره يي کتنو د وړانديزونو لومړيتوب او د لومړني کاري پلان جوړول کېدلای شي په لاندې ډول لنډيز شي:

| د نړيوالې دوره يي کتنې سپارښتنې | لومړيتوب ورکړ شوي | د تعقيبولو نوعيت او اساسي فعاليتونه | مسوول سازمان(نونه) او سرچينې | وخت | شاخص(صونه) |
|---|---|---|---|---|---|
| د تبعيض د منع شوي لاملونو په توګه د جنسي ګرايشاتو او جنسيتې هويت د شاملولو په مقصد د تبعيض په وړاندی د حقوقي تحفظ پياوړی کول | بلې. دا مهمه ده خو جوته شي چې که د مدني ټولنې غړي او نړيواله ټولنه يې ونه هڅوي نو دولت به يې له پامه وغورځوي. | مدافعه.د پارلمان دغړو سره لابي کول. د تقنين په تسويد کې ګډون. کمپاين کول. | د مدني ټولنې د غړو سره د LGBT د سازمانونو همکاري. د روانو فعاليتونو برخه | راتلونکي ۴ کلونه | په غير تبعيضي قانون کې د تبعيض د ممنوعه برخو په توګه د جنسي او جنډر د هويت د استقامت په توګه شاملول. |
| د عامه پوهاوي کمپاينونه په لاره واچوئ او يا ورسره يوځاي شئ څو د هم جنس ګرا، دوه جنس ګرا او ټرانس سيکشول (د جنسيت بدلول) کسانو زغمل وهڅوئ. | بلې. پورتنۍ برخه وګورئ. | په کمپاين کې شريک شئ. دځوانانو ، عوامو او د قانون د انفاذ استازي وړانديز کړئ، تر هدف لاندې چاپيريال: منځني ښوونځي؛ پوهنتونونه؛ ورزشي کلپونه؛ عامه روزنيز مرکزونه. | د مدني ټولنې له غړو سره د LGBT سازمانونه. اضافي سرچينې بايد وموندلې شي. | راتلونکي ۴ کلونه | کمپاين پلی شوې. د نفوسو هغه حوزې چې ورته رسېدنه شوې. |
| د جنډر له مخې نا برابری ته رسېدنې ته ادامه ورکول. | نه. په ډير مبهم ډول فورمولبندي شوی. | | | | |


| د نړیوالې دوره یي کتنې سپارښتنې | لومړیتوب ورکړ شوي | د تعقیبولو نوعیت او اساسي فعالیتونه | مسوول سازمان(نونه) او سرچینې | وخت | شاخص(صونه) |
|---|---|---|---|---|---|
| د ښځو په وړاندې د جنډر او تبعیض د مسئلو لپاره د موسسو او مخنیونکو پالیسیو تقویې ته ادامه ورکول | بلې. حکومت باید وهڅول شي څو د لا زیاتو سرچینو سره د برابرۍ لپاره موسسې تقویه کړي | څارنه او مدافعه. د برابرو امکاناتو لپاره د وزارت ته و رکړل شوو بودجوي سرچینو نظارت. د هغو نوښتونو څارنه چې د وزارت له خوا یې وړاندیز شوی، تر غور لاندې راغلي او د حکومت له خوا پلي شوي. | د مدني ټولنې د نورو غړي سره په همکارۍ د ښځو سازمانونه. د جاري فعالیتونو د یوې برخې په توګه. د بودجې د څارنې لپاره نور اضافي تخصصي امکانات باید تر لاسه شي. | راتلونکي ۴ کلونه | د برابرو فرصتونو لپاره وزارت ته اختصاص شوي سرچینې. د وزارت له خوا د پالیسۍ وړاندیزونه او د حکومت له خوا تصویب او پلي کیدل. |
| د CEDAW سره په سمون کې د ښځو په وړاندې د تبعیض د هر ډول مواردو د له منځه وړلو لپاره د وروستنیو قانوني اصلاحاتو پلي کولو ته لومړیتوب | بلې. د دې وخت دی چې بې تبعیضه قانوني چوکاټ ولرو! | د تقنین څارنه. د سیډا د وروستنیو مشاهداتو د تعقیبولو برخه | د مدني ټولنې د نورو غړو سره په همکارۍ کې د ښځو سازمانونه. د جاري فعالیتونو د یوې برخې په توګه. | د سیډا لپاره راتلونکي راپور | هغه تبعیضي احکام چې چې د سیډا له خوا تشخیص شوي لغوه شوي دي. |
| د ښځو او نارینه وو تر منځ د مزد د تفاوت د تشې د ډکولو لپاره د موخه ییزو فعالیتونو ترسره کول | نه، مګر د مدني ټولنې د د غړو له خوا ملاتړ . تعقیبول یې د مدني ټولنې د صلاحیت او ظرفیت څخه لوړ دي. | | | | |

| د نړیوالې دوره یي کتنې سپارښتنې | لومړیتوب ورکړ شوي | د تعقیبولو نوعیت او اساسي فعالیتونه | مسوول سازمان(نونه) او سرچینې | وخت | شاخص(صونه) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مدني ټولنې سره په همکارۍ کې د ښځو پر خلاف د زیان را وړونکو دودیزو کړنو او تبعیضي انګیرنو د له منځه وړلو لپاره د تفصیلي ستراتیژۍ جوړول. | بلې. داد ایتلاف له خوا په لومړیتوب کې راغلي او دغه وړاندیز د مدني ټولنې څرګند نقش په ډاګه کوي. | د ستراتیژۍ په جوړولو کې ونډه | د یو این ومن سره په همکارۍ کې د ښځو سازمانونه | یو کال ستراتیژي تصویب شوې ده. | |
| د ماشومانو د کار د منع لپاره هڅې، د بیلا بیلو هغو ملي موسسو سره چې د ماشوم د حقونو لپاره کار کوي د همغږۍ بهتره کول. | نه. د د مدني ټولنې دښکیلو غړو د فعالیت د ساحې څخه بهر. | | | | |

## 5.4 د تطبيق څار

د مدني ټولنې لپاره د دولت له خوا د سپارښتنو د پلي کولوڅارنه يو مهم فعاليت دی چې له مخې يې د حکومت احتساب باوري کيږي. دا د مدني ټولنې غړي د دې څخه پر وخت با خبر ساتي چې ايا دولت د بشري حقونو يو ځانګړی تړون تصويب کړی دی ، هېواد ته د سفر لپاره يې ځانګړي متخصصين د لېدنې لپاره د عوت کړي دي، د عدم تبعيض په اړه يې کوم قانون تصويب کړی دی؛ يا داسې پېچلې د ځارنې بهيرونه يې چې په کې يې په ګڼ شمير محلاتو کې د بيلابيلو سرچينو څخه ارقام راټول او تاييد کړي ، يا د يو مشخص پړاو لپاره يې د شاخصونو او معيارونو په اړه معلومات تحليل کړي دي. دا چې هر ډول څارنه تر سره شوې وي، ساده يا پيچلې، **مهمه داده چې موندنې دقيقې او اعتباري دي.** دغه موندنې د هېوادونو د حکومتونو سره د مدافعې لپاره بنسټ ګرځي او په دې توګه د بشري حقونو د ميکانيزمونو لپاره د اظهاراتو برابرولو کې مرسته کوي، د بيلګې په توګه د نړيوالې دوره يي کتنې په دوهمو او دريېمو دورو کې د نهادونو / د تړون د ارګانونو د کتنو د تعقيب په موخه د بشري حقونو د شورا لپاره د شفاهي تازه معلوماتو په توګه کار ورکوي. د بشري حقونو د څارنې[55] لپاره د بشري حقونو دعالي کميشنر د دفتر لارښود د څارنې د ميتودولوژۍ لپاره تفصيلي لارښوونې برابروي چې دا د بشري حقونو انديښنو ته د رسيدګۍ او ارزونې لپاره د يوې فعالې ټولګې، د تصديقولو، تحليل ، او د معلوماتو د کارولو د وسيلې په توګه کار ورکوي. ددغه تعريف له مخې د څارنې دندې د اوږد مهاله لپاره تر سره کيږي. د څارنې ټوله پروسه همدارنګه د بشري حقونو د څارنې دورې ته راجع کيږي، لاندې وګورئ.

### د څار دوره




[5] د بشري حقونود څارنې لار ښود (د ملګرو ملتونو خپرونې HR/P/PT/7/Rev.1).

## په هانکانګ کې د رایې اچونې په مرکزونو کې معلوماتو او موادو ته د رسېدنې ښار

د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په میاشت کې چین د هانکانګ په شمول د معیوبو اشخاصو د حقونو د کمیټې ( سي آر پي ډي) له خوا وارزول شول . د رضا کارو مدافعانو یوې ډلې د چوزن پاور ( Chosen Power) د سازمان څخه د سي آر پي ډي د کمیټې په دوارو ۷ او ۸ مو غونډې کې ګډون درلود څو په دې اړه معلومات ورکړي چې د دوي حکومت څه ډول د هغوي د حقونو څخه دفاع کوي، او د دغي تجربې څخه یې په هانکانګ کې د مدافعې لپاره کار واخیست. چوزن پاور هغه لومړنی د مدافعې رضاکار او پر خپل ځان متکي سازمان دی چې د هغو کسانو له خوا چې په اسیا کې مختلف استعدادونه لري پر مخ وړل کیږی او په ژنیو کې د هغوي ګډون د لومړي ځل لپاره دهغو کسانو له خوا وشو چې د ذهني معیوبیتونو لرونکي دي او کمیټې ته یې خطاب وکړ.

پ د ۷مې غونډې په تعقیب چې په کې د مسلو لړ لیک تصویب شو، چوزن پاور د رایې اچونې په مرکزونو کې د هغو کسانو لپاره چې ذهني معیوبیتونه لري معلوماتو او موادو ته د رسېدنې او د دې حق لپاره چې د هغوي د خوښې کس له خوا د رایې صندوق ته بدرګه شي تبلیغ وکړ. هغوي د ۲۰۱۲ کال په جولای کې د ثبت او ټاکنیز دفتر له چارواکو سره ولیدل څو دغه مسلې او همدارنګه د هغو کسانو لپاره چې ړانده دي او یا د لېدنې ستونزې لري د رایې لپاره نه رسېدنه ، د هغو کسانو لپاره چې په موسسو کې ژوند کوي د رایې اچونې د امکاناتو نشتوالی، او دا چې هغه کسان چې په « ذهني لحاظ نا توانه» پیژندل شوي دي او د خپلې رایې د حقونو څخه محروم دي د هغوي ستونزې مطرح کړې.

ټاکنې د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې ترسره شوې او چوزن پاور د ټاکنو د بیلابیلو اړخونو څخه څارنه وکړه. هغوي ته جوته شوه چې د ټاکنو ویب پاڼو ته لاس رسی نه و، داچې هغوي اړ وو چې د ډیر وخت لپاره تم شي څو د رایې په مرکزونو کې د رایې اچونې لارښودونه « اسانې سره و لولي» ، او یو وخت هغوي د دې احساس وکړ چې هغه مرسته چې د رایې په مرکزونو کې دوي ته برابریږي د هغې په صورت کې د دوي د خپلواکۍ او محرمیت درناوی نه کیږي.

د یوې مثبتې پایلې په توګه د سي آر پي ډي د کمیټې د کتنې پروسه د معیوبیت لرونکو اشخاصو او د مدني ټولنې د غړو د سازمانونو انسجام دی چې د ایتلاف په توګه ګډ ځواک وکاروي څو په پراخه مدني ټولنه کې د معیوبیت مسلو ته اساسي لوری ورکړي . په هانکانګ کې دغه سازمانونه همدارنګه سره په ګډه کار کوي څو د هانکانګ د مسلو د لړ لیک په اړه د بشري حقونو کمیټې ته د راپور په برخه کې مرسته وکړي چې په هغه کې دوي همدارنګه د سیاسي شراکت لپاره د خپلو حقونو مسله راپورته کړه څو په دې توګه پر حکومت باندې د دې لپاره فشار راشي څو د هغوي د مساوي ګډون لپاره لازم بدلونونه راوړي.

**د تطبیقولو څارنې لپاره د بشري حقونو د شاخصونو کارول**

کمیتي او کیفیتي شاخصونه چې پر پخو او شفافو میتودولوژیو ولاړ وي ، کېدلای شي چې د سپارښتنو د پلي کولو د څارنې لپاره وکارول شي.

د بېلګې په توګه هغه شاخص چې له مخې یې د جنسیتي او زېږون د روغتیا لپاره قانون تصویب شي هغه کیدلای شي چې د دغه قانون د انفاذ نېټه او د پوښښ ساحه وي.

بله سپارښتنه په دې ساحه کې کېدلای شي چې « د ټول هېواد په کچه د حمل د مخنیوي لپاره مصوونه او ارزانه د حمل د مخنیوي خدمات» وي.

یو داسې شاخص چې له مخې یې د ښځو او د هغوي د مېړونو د حمل د مخنیوي توکو د کارولو تناسب دی چې هغه د دې امکان برابروي څو شریکبانې وکولای شي چې د دغه قانون د پلي کولو درجه معلومه کړي. د حمل د مخنیوي د وسایلو د کارولو ارقام/ډېټا د ملګرو ملتونو د نفوسو د څانګې له خوا چې په ملي کچه د استازیتوب سروې ګانې کوي برابرېږي.

کله چې د شاخصونو لپاره ډېټا راټولېږي نو مهمه ده چې جلا جلا کړای شوي ارقام موجود وي څو د یو وضعیت په اړه توپیري اړخونه په نښه شي. په یو برابر ډول لیک کې او د دې په اړه چې په هره ساحه کې څه اړوند او ممکن دي شاخصونه کېدلای شي چې د نژاد، رنګ، عمر، ژبې، مذهب، سیاسي او نورو مفکورو، د ملیتي او ټولنیزې منشاء، شتمنۍ، تولد،فزیکي او ذهني معیوبیت، روغتیایي حالت( د ایچ آی وي /ایډز په شمول)، جنسي رجحان، او ملکي، سیاسي او نورو موقفونو له مخې سره جلا جلا ترتیب شي. کله چې اړوند شاخصونه تشخیص شوي وي نو ګټوره ده څو معیارونه ترتیب شي چې دولتونه دې اړ کړای شي د سپارښتنو په ډول کې ژمن و اوسي او عملي یې کړي.

**ټولنیز څار ( سوشیل واچ)**[6] او د **اقتصادي او ټولنیزو حقونو مرکز**[7] هغه سازمانونه دي چې هغه د سپارښتنو د تعقیبولو لپاره د پام وړ تجربه لري.[8]

## 6.4 خوځښت راوستل

د ملګرو ملتونو د میکانیزم او یا هم د ځانګړو صلاحیت لرونکي شخص له خوا د یو هېواد د بشري حقونود وضعیت کتنه کېدلای شي چې اکثره وخت تحرک را منځته کړي لکه:

- د بشري حقون د وضعیت په اړه د رسنیو بې سارې پاملرنه؛

6 www.socialwatch.org

7 www.cesr.org

8 د شاخصونو په اړه د لا زیاتې لارښوونې لپاره د بشري حقونو شاخصونه وګورئ- د سنجش او تطبیق لپاره لارښود (د ملګرو ملتونو خپرونې، HR/PUB/12/5 )

- د دولتي چارواکو د دې لپاره علنيت ځو په مرکزي او محلي کچو د بشري حقونو ځينو ستونزو ته رسيدګي وکړي؛
- په دولت کې نوي همکاران دې ته چمتو دي څو د مدني ټولنې سره ډيالوګ پيل کړي؛
- د دې لپاره نوې انګيزه څو د بشري حقونو د تامين لپاره تدابير ونيول شي؛
- د سياسي ارادې څرګندونه څو داسې تقينن ترسره شي چې د بشري حقونو د معيارونو سره په سمون کې وي؛
- د نوو سرچينو موجوديت څو په اړوندو ساحو کې کار وشي؛ او
- د کتنې لپاره نوې همکارۍ او ايتلافونه رامنځته شوي او تقويه شوي.

د مدني ټولنې فعالان د بشري حقونو د ميکانيزمونو د فعاليتونو لپاره او د دغه شان فرصتونو څخه په ګټنې سره کولای شي د بشري حقونو د ساتنې د ښه والي لپاره ستراتيژۍ وړاندې کړي.

## 7.4 د ايتلافونو رامنځته کول او دهغو سره کار کول

د مدني ټولنې د غړو د ايتلافونو د لارې د بشري حقونو د ميکانيزمونو په کار کې ګډون اکثره وخت مثبتې پايلې لري. په بيلګو کې لاندني موارد شامل دي:

- د بشري حقونو ميکانيزمونو ته د هر اړخيزو ګزارشونو وړاندې کول، چې په کې غالبآ هغسې سپارښتنې شاملې دي چې هغو لومړيتوبونو ته انعکاس ورکوي کوم چې د ايتلاف له لوري تشخيص شوي دي.
- د تخصص، مسلک او سرچينو او پر اساس د غړو سازمانونو تر منځ د کار ويش چې د ګډون او تعقيبولو لپاره اغيزمنتيا را منځته کوي( د بيلګې په توګه ځينې سازمانونه به په مدافعه او يا هم د پوهاوي په لوړولو تمرکز ولري، نور به په څارنه، د ډيټا راټولول او تحليل، چې په کې تخنيکي ډيټا او معلومات شامل وي، نور بيا د بشري حقونو څخه د سرغړونو قربانيانو ته ملاتړ برابروي او د دې سره مرسته کوي څو د هغوی غوښتنې او شهادتونه واوريدل شي.)
- د مدني ټولنې د غړو تر منځ اړيکي، همکاري او پيوستون زيات شوی دی. دا په ځانګړې ډول هغه مهال مهمه ده کله چې د مدني ټولنې غړي کېد لای شي تر تهديد لاندې وي.
- د بشري حقونو د ميکانيزمونو، دولتي چارواکو او نورو شريکبانو ( د بيلګې په توګه ډيپلوماتيک ماموريتونه، د بشري حقونو ملي موسسې) لپاره د پيغام او موخې د يو والي لپاره د ايتلاف د نفوذ او اعتبار زياتوالی.
- د مدني ټولنې د بشري حقونو کوچني فعالين هغه مهال ډېره توجه راجلبوي کله چې د ايتلافونو د لارې د هغوی مسلې مطرح شي.

## د مدني ټولنې د فعالانو ایتلاف په فلپین کې د نړیوالې دوره یې بیا کتنې له لارې د شکنجې د له منځه وړلو په برخه کې پرمختګ کړی

د طبي عمل ډلې د فلپین په اړه د نړیوالې دوره یې بیا کتنې لپاره د مدني ټولنې د ګډ راپور د چمتو کولو په چارو کې ګډون کړی. له دې څخه وړاندې چې د ۲۰۱۲ کال په می میاشت کې نړیواله دوره یې بیاکتنه را منځ ته شي، د مدني ټولنې د فعالانو ایتلاف غړو په مانیلا کې د معلوماتو ورکولو یوه ډیپلوماتیکه ناسته تنظیم کړی چې نږدې ۲۰ سفارتونو په کې ګډون کړی و. په ژنیو کې، دغې ډلې د خپلو اندیښنو په اړه د پوهاوي د لوړولو په موخه د ۱۶ ډیپلوماتیکو ماموریتونو سره غونډې ترسره کړې. د ایتلاف غړو وویل،»موږ وکولای شوای په یوه معلوماتي پاڼه کې د هرې موضوع په هکله په ځانګړې او مختصر ډول خپلې لومړنۍ اندیښنې په ډاګه کړو» د ایتلاف غړو وویل. «د نړیوالې دوره یې بیاکتنې په پروسه کې د راپور د سپارلو او د حکومتونو په دننه کې د نفوذ کولو په برخه کې د مدني ټولنې د فعالانو د ایتلاف د کار ارزښت د لا زیاتو سپارښتنو لپاره لار هواره کړې. دې کار همدارنګه د هغوي د تطبیق په هکله د دولت سره د تعقیب او زموږ د فعاله ګډون په برخه کې چارې تسهیل کړي دي.»

د فلپین د طبي عمل ډله او د شکنجې په وړاندې ګډ ایتلاف د شکنجې څخه د مخنیوي په هکله د خپل کار د ملاتړ لپاره د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د پروسې سپارښتنې کاروي. د طبي عمل د ډلې یوه استازي وویل، «موږ په خپل نظارتي کار او مدافعه یې فعالیتونو کې د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د پروسې سپارښتنې کاروو چې تمرکز یې د شکنجې د طبي اړخونو په لا زیاته عامه څرګندتیا، او د شکنجې د قربانیانو او د هغوي د کورنیو لپاره د استانبول د پروتوکول او د بیارغونې د پروګرامونو د تاسیس پر بنسټ د اسنادو جوړول دي. د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د پروسې سپارښتنې په فلپین کې د شکنجې د مخنیوي په هکله د ظرفیت جوړولو په برخه کې متعددې اغیزې درلودلې دي.»

## په سویس کې د اقتصادي،ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه د سپارښتنو د تطبیق په موخه یوه طرحه

د سویس د اقتصادي،ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه ایتلاف د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه کمیټې د نهایي ملاحظاتو د تعقیب لپاره لار هواره کړه. دغه ایتلاف د مدني ټولنې فعالانو ته کوم چې په بیلابیلو ساحو کې تخصص لري او په نهایي سپارښتنو کې یې انعکاس هم شوی، بلنه ورکوي څو تشریح کړي چې د هرې سپارښتنې د تطبیق لپاره څه ته اړتیا لیدل کیږي. هغه ټولې لاسته راوړنې کومې چې د حکومتي چارواکو سره د ګردې میزونو د خبرو اترو پر مهال مطرح او شریکې شوې د عملي لارښودونو په بڼه کې یو ځای شوې.

تجربې ښیي چې د ایتلاف سره کار کولو ښې پایلې را منځ ته کړې، د تیرو فعالیتونو څخه تر لاسه شوو تجربو هم ځینې عمومي ننګونې په ګوته کړې، چې په لاندې ډول دي:

- د همغږۍ په چارو کې شکیلې سرچینې او وخت
- د لومړیتوبونو او نقشونو په اړه موافقت
- د ایتلاف د موخو د خوځښت او احساس ساتل
- د توافق تر لاسه کول شایې ورته مسالې کم رنګه کړي.

### په جاپان کې د نژادي تبعیض په وړاندې مبارزه

د نژادي تبعیض د له منځه وړلو لپاره د جاپان د انجوګانو شبکه(ERD Net) په ۲۰۰۵ کال کې د نژاد،نژادي تبعیض، د نورو څخه ویره او د اړوند نه زغم د معاصرو بڼو په هکله د خاص راپور ورکونکی د لیدنې نه وروسته په ۲۰۰۷ کال کې را منځ ته شوه. د تبعیض او نژاد پرستي د ټولو بڼو په وړاندې د نړیوال خوځښت(IMADR) په ملاتړ، د نژادي توپیر د له منځه وړلو لپاره د جاپان د انجوګانو شبکه په جاپان کې د نژادي تبعیض د له منځه وړلو په هکله د نړیوال کنوانسیون د تطبیق لپاره کار کوي. د نژادي توپیر د له منځه وړلو لپاره د جاپان د انجوګانو شبکې د جاپان په اړه د نژادي تبعیض د له منځه وړلو په هکله کمیټې ته متبادل یا ضمني راپور سپارلی. د ۲۰۱۰ کال په فبروري کې د جاپان د انجوګانو د شبکې هیئت غړو په غونډه کې برخه اخیستې او د نژادي توپیر د له منځه وړلو کمیټې لپاره یې معلومات تنظیم کړي. د ۲۰۱۰ کال د اګسټ او د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتو تر منځ، د نژادي توپیر د له منځه وړلو کمیټې د حکومت سره یو شمیر سلامشورې ترسره کړې او د نژادي تبعیض د له منځه وړلو په هکله د کمیټې د نهایي ملاحظاتو پر بنسټ یې د پارلمان د غړو لپاره ورکشاپونه تنظیم کړي. د نژادي تبعیض د له منځه وړلو د شبکې یوه تن استازي وویل، «دغو فعالیتونو موږ ته اجازه راکړه تر څو په ملګرو ملتونو او ملي کچو کې خپل مدافعه یې مهارتونه تقویه کړو.» «دغه کار زموږ د همکارۍ اړیکې غښتلې کړي دي. دغې تجربې موږ ته همدارنګه اجازه راکړې تر څو رسنۍ د یوې بلې ساحې په حیث وپیژنو چیرې چې غواړو زیات فعاله و اوسو. د رسنیو لخوا زیات تمرکز به په یقین سره ګټور وي څو معلومه کړي چې نړیوال میکانیزمونه په څه ډول په جاپان کې د بشري حقونو وضعیت ته ګوري».

## 8.4 شراکت

د تعقیب او د بشري حقونو د تطبیق په موخه د شریکانو سره کار کول شایې یو ستراتیژیک ارزښت ولري.

تیرو تجربو ښوولې چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په پروسو کې ګډون ممکن د نویو شراکتونو او د مدني ټولنې د فعالانو په منځ کې د همکارۍ په ډګر کې نوې فرصتونه را منځ ته کړي. د دې فرصتونو په کارولو سره او د دغو شراکتونو څخه د لا زیاتو لاسته راوړنو له لارې کیدای

شي پایلې څو برابره شي. د شراکتونو د تاسیس په وخت کې، مهمه ده د شریکانو تنوع ته پام وشي څو ډاډ حاصل شي چې ټولو لرلیدونو ته پام اړول شوی.

د شریکبانو سره کار کول ممکن په ټولو کچو کې واقع شي: ځینې ښایي ورته موخې شریکې کړي، نور ښایي سرچینې،خاص مهارتونه یا د ارتباطاتو پراخه شبکه ولري، نور بیا مهمه دنده ترسره کونکي دي یا کولای شي هغوي تر نفوذ لاندې راولي. د کلیدي فعالانو ثبتول او د دې پوښتنه چې هغوي د خطرونو او تهدیدونو په شمول څه ډول مرستې کولای شي، دا د یوې ستراتیژۍ د جوړولو او نقشونو د تعریف کولو لپاره بنسټ جوړوي. په یوه غیر جامع لسټ کې، د مدني ټولنې د فعالانو د شراکت او همکاري بیلابیلې ځمونې تجربه کړي:

- د ټولنو پر بنسټ د سازمانونو څخه د مدني ټولنې تر ملی او نړیوالو فعالانو پورې – په بیلابیلو کچو او بیلابیلو موضوعاتي برخو کې؛
- ځمویل کونکي او دیپلوماتیکه ټولنه؛
- رسنۍ؛
- د سوداګرو اتحادیې او مسلکي انجمنونه؛
- موضوعاتي شبکې؛
- د پارلمانونو او اړوندو پارلماني کمیسیونونو په شمول، دولتي جوړښتونه؛
- د بشري حقونو ملي نهادونه؛
- د ملګرو ملتونو او د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر د ساحوي شتون په شمول نړیوال او سیمه ییز سازمانونه؛
- علمي نهادونه؛ او
- د بشري حقونو میکانیزمونه.

## په نیپال کې د ماشوم د حقونو د ساتنې او ترویج په موخه د شریکانو بسیج کول

په نیپال کې، د ماشومان وژغورئ (Save the Children) موسسې د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د پروسې لپاره د مدني ټولنې ۱۳۸ فعالان روزلي. دغې موسسې په ملي او نړیواله کچو د شریکبانو د سپارنې او همغږۍ وکالت سره مرسته کړې. د یوې پایلې په حیث، د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د پروسې ترلاسه شویو پایلو د ماشومانو د حقونو په اړه ۳۴ سپارښتنې درلودلې چې له دې جملې څخه یې د نیپال د دولت لخوا ۳۱ سپارښتنې منل شوې.

د ماشومان وژغورئ موسسې د مدیریت او حساب ورکونې د غښتلتیا او د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د پروسې د ملي مالکیت د تسهیل په موخه، د مدني ټولنې د شبکو، د بشري حقونو د ملي کمیسیون، سفارتونو او رسنیو په شمول، د بیلابیلو ملي شریکبانو د بسیج کولو په خاطر د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د پروسې تعقیبي ستراتیژۍ جوړه کړه.

د نړیوالې دوره یې بیا کتنې پروسه د عمل لپاره د عمومي اجنډا په شاوخوا باندې د نیپال د مدني ټولنې د فعالانو د راغونډولو په برخه کې ډېره ګټوره ثابته شوې. د حکومتي چارواکو او سفارتونو سره د ګډو دفاعي او د لوړې کچې د دوه اړخیزو ناستو یوه مجموعه د ډله ییزو رسنیو له لارې کارول شوې چې په دې کې د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د پروسې په هکله مطبوعاتي مقالې او تلویزیوني مرکې شاملې دي. د ماشومانو په تړاو د خاصو پیښو سره د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د پروسې نښلول د رسنیو د پاملرنې د راجلبولو له نقطه نظره اغیزمن و، د بیلګې په توګه د ماشوم د حقونو ورځ.


د ماشومان وژغورئ موسسې، د ماشوم د حقونو د ملي ایتلافونو سره په همکارۍ کې د بشري حقونو ملي کمیسیون هڅولی څو د ماموریت په دننه کې د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د پروسې د سپارښتنو نظارت او تعقیب وکړي. د بشري حقونو ملي کمیسیون د تطبیق د وضعیت په اړه د معتبرو او اعتباري معلوماتو د شتون څخه د ډاډ حاصلو په برخه کې مهم نقش لوبوي.

د همغږي تعقیبي هڅو د یوې پایلې په حیث، د نړیوالې دوره یې بیاکتنې ۴-۱۰۸ ګڼه سپارښتنه چې «د اوږدې مودې انتظار څخه راهیسې د ماشوم د پالیسۍ، د ماشوم د حقونو د عمل،د معارف د مقررې، د ماشوم د ساتنې د پالیسۍ او د ماشوم د ساتنې په موخه د پناه ځایونو د جوړولو لپاره د حد اقل معیارونو» غوښتنه کوي، تر یوې اندازې پورې تطبیق شوې دي.

د ماشوم ملي پالیسي او د ماشوم د ساتنې په موخه د پناه ځایونو د جوړولو لپاره جامع معیارونه په ۲۰۱۲ کال کې تصویب شول. کابینې هم د ماشوم د حقونو لایحه تصویب کړه.

د شریکبانو سره کار کیدای شي په بصری بڼه وړاندې شي. د بیلګې په توګه، د نیپال د پورته یادې شوې تجربې تصور کیدای شي د دې لاندې ګراف په مرسته وړاندې شي:

### په نيپال کې د ماشوم د حقونو په اړه د شريکباڼو بسيجول




## 9.4 د اطلاعاتو خپرول او د پوهاوي لوړول

د بشري حقونو د ميکانيزمونو د موندنو او سپارښتنو په اړه د اطلاعاتو انتشار او د پوهاوي لوړول د هيواد د بشري حقونو د ژمنو د پلي کولو د ترويج لپاره ګټورې لارې چارې دي.

په يو شمير زياتو قضيو کې، تطبيق څکه ممکن دی چې خلک په خپلو حقونو پوه شوي دي او د هغو حقونو غوښتنه کوي د کومو چې دوي مستحق دي ، او يا دا چې اړوند چارواکي هم په دې پوه دي چې د دوي څخه د څه شي تمه کيږي څو د بشري حقونو ژمنې پوره کړي. د پوهاوي د لوړولو او د بشري حقونو په اړه د معلوماتو د انتشار له لارې د بشري حقونو د درک د تشو له منځه وړل او د تشو کمول د تطبيق د ښه کولو لپاره موثرې لارې چارې دي.

په ملي ژبو او په بيلابيلو شکلونو د رسنيو د ټولنيزو رسنيو او د کمپاينونو ژباړل، د مدني ټولنې فعالان د بشري حقونو د ميکانيزمونو د موندنو او سپارښتونو د انتشار په برخه کې باوری او تخليق کونکي دي. د معيوبو کسانو لپاره د موادو او معلوماتو د لاسرسی برابرول بايد تل د خپراوي لپاره په پلانونو کې يو ځای شي.

## په برازیل کې د شکنجې د مخنیوي په هکله د فرعي کمیټې د سپارښتنو د خپرولو په موخه «معلوماتو ته د لاسرسي د قانون» کارول

په ۲۰۱۱ کال کې د خپلې لومړنۍ لیدنې پر مهال، د شکنجې څخه د مخنیوي په هکله فرعي کمیټې د هیواد په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه سلوک په اړه وضعیت تر څیړنې لاندې ونیو. د دې په تعقیب د شکنجې د مخنیوي په اړه فرعي کمیټې په هیواد کې د شکنجې د فعالیت په حواله د سپارښتنو سره یو ځای د برازیل د دولت لپاره یو راپور چمتو کړ.

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا تحقیر امیزه چلند یا رټنې (OPCAT) په وړاندې د کنوانسیون د اختیاري پرتوکول په حواله، راپور هغه وخت چې کله دولت وغواړي، خپریږي. د مدني ټولنې د غوښتنو سربیره، راپور محرم ساتل شوی.

د ۲۰۱۲ کال په مې میاشت کې، برازیل معلوماتو ته د لاسرسي قانون تصویب کړ. په کومه ورځ چې قانون نافذ شو، کونیکتاس (Conectas Direitos Humanos) یو درخواست درج کړ او د برازیل د دولت څخه یې غوښتنه وکړه تر څو د شکنجې د مخنیوي په اړه د فرعي کمیټې راپور خپور او د لاسرسي وړ وګرزوي. د هغه ضرب العجل په دننه کې چې د قانون لخوا ور وسپارل شو، د برازیل دولت غبرګون وښود او د پرتګالي ژباړې په شمول یې د بشري حقونو د وزارت په ویب سایټ راپور او سپارښتنې خپرې کړې.

کونیکتاس دا ضروري وګڼله چې د شکنجې د مخنیوي په اړه د فرعي کمیټې راپور باید په ملي ژبو خپور شي. د مدني ټولنې د فعالانو او نورو شریکباڼو د شتون پرته ممکن نه وه چې د شکنجې د مخنیوي په اړه د فرعي کمیټې د سپارښتنو د تطبیق نظارت وشي. کونیکتاس وویل، «دا په هیواد کې د شکنجې د فعالیت په حواله د جدي وضعیت د معلومولو په هکله د پوهاوي د لوړولو په هدف یو اساسي اقدام و. د دې په پام کې نیولو سره چې په برازیل کې د شکنجې دوام د موثره مخه نیونکو پالیسۍ ګانو د نه شتون او په اصل کې د مرتکبینو لپاره د حساب ورکونې د نه شتون په پایله کې را منځته شوی ، معلوماتو ته د لاسرسي قانون یوه داسې موثره طریقه وه څو دا یقیني کړي چې د شکنجې د مخنیوي په اړه د فرعي کمیټې ارزونه د لاسرسي وړ وه او کیدای شي اوس د اړوندو شریکباڼو لخوا د شکنجې سره د مبارزې کولو په موخه په پراخه پیمانه وکارول شي.»

## په ايرلنډ کې د انټرنيټ له لارې د شکنجې په وړاندې د کميټې د ناستو خپرول

په ۲۰۱۱ کال کې، د مدني ازاديو لپاره د ايريش شورا(ICCL) او د ايريش د جزايي اصلاحاتو صندوق (IPRT) د شکنجې په وړاندې د ملګرو ملتونو د کميټې (CAT) په وړاندې د ايرلنډ د لومړنۍ ناستې لپاره يوه ګډ راپور چمتو کړ. د شکنجې د قربانيانو لپاره د بيارغونې نړيوالې شورا (IRCTV)، د مدني ازاديو لپاره د ايريش شورا (ICCL) او د ايريش د جزايي اصلاحاتو صندوق (IPRT) د شکنجې په وړاندې د کميټې د ناستو لومړنۍ ناسته په ژوندۍ بڼه د انټرنيټ له لارې خپور کړه، چې په ايرلنډ کې د مدني ټولنې د يو شمير فعالانو او قانوني ارګانونو لخوا څارل کيده.

د مدني ازاديو لپاره د ايرلنډ شورا (ICCL) يوه استازي وويل.«موږ ضمني راپور او د شکنجې په وړاندې د کميټې سپارښتنې په پراخه پيمانه خپرې کړې او د ټولو سترو اخبارونو او راډيو ګانو له لارې مو پوښښ تر لاسه کړ. د عامه روانو چارو خپرونې زموږ د انټرنيټي پاڼې څخه د ايرلنډ په اړه تحليل ننداري ته وړاندې کړ. دا لومړی ځل و چې د ايرلنډ خلکو د ملګرو ملتونو د تړون ارګان په اړه په عمل کې څه وليدل ».

د شکنجې په وړاندې د کميټې مخې ته د ايرلنډ را خرګنديدل او هغه سپارښتنې چې په اخري پړاو کې را منځ ته شوې ، هغو په ايرلنډ کې د تدريجي بدلون سره مرسته وکړه. د بنديخانو اصلاحات يوه ستره سياسي مشخصه ده او د جزايي ستراتيژۍ د بيا کتنې ډله هم را منځ ته شوه.[9] کميټې د ۱۲ مياشتو په دننه کې د ۴ خاصو سپارښتنو د تعقيب غوښتنه کړې، د مګډلين د کاليو مينځلو د فابريکو په شمول چې په هغهه کې دولت د ښځينه توقيفيانو د دوسيو د مؤثرې څيړنې څخه پاتې راغلی و. د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې، د مګډلين د کالو مينځلو په فابريکو کې د دولت د ښکيلتيا په اړه يو رسمي راپور خپور شو. **10** د هغه وخت راهيسې، دولت د مګډلين د کالو مينځلو د فابريکو د ښځو څخه په رسمي ډول بخښنه غوښتې او د خسارې د جبران طرحه يې د پرمختګ په حال کې ده.

## د ويب پاڼو او ويډيو ګانو خپرول

د ملګرو ملتونو د انټرنيټي تلويزيون په واسطه د بشري حقونو د شورا او نړيوالې دوره يي بياکتنې ناستې په مستقيم ډول نشر او ارشيف شوې. مدني ټولنه کولای شي د تړون د ارګانونو د ناستو څخه فلم ډک او هغه نشر کړي. په ژنيو کې د ميشتو انجوګانو يوه ډله د تړون د ټولو ارګانونو د ناستو د ويب کاستنګ همغږې کوي. www.treatybodywebcast.org

يو شمير زياتې ويډيو ګانې چې د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر له خوا توليد شوي د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر او نورو ټولنيزو رسنيو په ويب پاڼو د لاسرسي وړ دي.

[9] د عدليې، مساواتو او دفاع وزير لخوا دايره شوې ، د جزايي ستراتيژۍ د بيا کتنې ډله د ۱۲ کارپوهانو څخه جوړه چې د قضاءپوليسو،ازمايښتي خدمتونو او بنديخانو د چارواکو څخه استازيتوب کوي. دا ډله د ايرلنډ د نړيوالو ژمنو په شمول، د يوه اصولي او پايښت لرونکي جزايي سيستم د تقويت په اړه سپارښتنې وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره **www.justice.ie** ته مراجعه وکړئ.

[10] په **www.justice.ie** د لاسرسي وړ دی.

[11] **http://webtvun.org/**

[12] په **www.ohchr.org** کې د ټولنيزو رسنيو په هکله د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر ته لاسرسی پيدا کړئ.

## 10.4 مدافعه

کیدای شي د بشري حقونو مدافعه د بشري حقونو د تطبیق د ښه کولو په موخه د مفاهمې په حیث تعریف شي. د مدافعې موثره پیغامونه د بشري حقونو د وضعیت او اندیښنې په اړه **اطلاع** ورکوي، د دې څخه موخه دا ده چې د بشري حقونو د وضعیت او اندښنو په هکله د اقداماتو تر سره کولو ته نور هڅوي.

د بشري حقونو د مدافعې د موثره پیغامونو خصوصیات:

- بنسټ یې په تصدیق شویو واقعیتونو او ارقامو ولاړ وي
- په واقعي ژوند کې بشري بیلګې ولري
- ساده او مختصر وي
- مناسبه ژبه وکاروي (د سیاسي بلاغت په پرتله د بشري حقونو خبرې اترې وکاروي، د تیري کوونکو الفاظو د کارولو څخه ډډه وکړي)
- د یوه اعتبار لرونکي پیغام رسونکي لخوا وړاندې شي
- د عمل یوه روښانه غوښتنه ولري
- د هدف وړ پیغام اخیستونکو لپاره مناسب وي
- د متقابل استدلال وړاندوینه ولري

د بشري حقونو د میکانیزمونو موندنې او سپارښتنې دغه خصوصیات لري: د هغوي د مدافعې د لا موثریت لپاره سپارښتنې او د مدني ټولنې د فعالانو لخوا د سپارښتنو او موندنو پیژندل او لومړیتوب.

## مدافعه، د پوهاوي د کچې لوړول او د تونس په ټاکنو کې د معیوبو کسانو د ګډون څخه نظارت

د تونس په اړه د ۲۰۱۱ کال د معیوبو کسانو د حقونو په اړه د کمیټې(CRPD) په وروستیو ملاحظاتو کې د هیواد د دیموکراتیکو اصلاحاتو په اړه یو شمیر سپارښتنې شاملې دي، د دې سپارښتنو موخه د نوي اساسي قانون د تسوید په چارو کې د معیوبو کسانو د شاملولو څخه ډاډ دی او دا چې دوی کولای شي د رای اچولو خپل حقونه وکاروي او په عامه ژوند کې د نورو سره د مساواتو پر اساس د رای اچونې په پروسه کې ګډون وکړي.

د معیوبو کسانو لپاره د بشري حقونو د ودې تونسې سازمان(OTDDPH)، د انقلاب نه وروسته را منځ ته شو او په بیلابیلو سیمو کې یې په راتلونکو ټاکنو کې د ګډون په موخه د معیوبو کسانو د هڅونې لپاره د پوهاوي د کچې د لوړولو یو شمیر ورکشاپونه ترسره کړل. د هغوي یو شمیر زیات غړي د ټاکنو رسمي کتونکي وو او د معیوبو کسانو سازمان ته یې اجازه ورکړه شو په رسمي توګه په هیواد کې د ۱۰۰ څخه د زیاتو رایې اچونې د مرکزونو د فعالیتونو نظارت وکړي او د لاسرسي معیارونه او همدارنګه په ټاکنو کې د معیوبو کسانو لخوا د ګډون د کچې د معلوملو څخه نظارت وکړي.

د اساسي قانون د ملي اسامبلې د ټاکنو په تعقیب، شورا ته د تونس د نوي اساسي قانون د مسودې د جوړولو دنده وسپارل شوه، د معیوبو کسانو سازمان داسي اقدامونه ترسره کړل څو د اساسي قانون د اسامبلې سره وکالتي چارې پر مخ بوزي څو په راتلونکو ټاکنو کې د معیوبو کسانو د حقونو د شمولیت څخه ډاډ حاصل شي. د معیوبو کسانو او د معیوبو کسانو د سازمان د کمیټې په سپارښتونو کې د هغوي د مدافعې د بنسټ ایښودل، د معیوبو کسانو د سازمان د اسامبلې د کمیټې په استماعیه غونډو کې نظر وړاندې کړی او د کمیټې د انفرادي غړو سره په خبرو اترو کې ښکیل شوي او په اساسي قانون کې یې د ممکنه شمولیت لپاره یوه مقرره تسوید کړې.

## په ګواتیمالا کې د یوې خپلواکې قضاء د را منځ ته کولو لپاره مدافعه

د قاضیانو او حقوق پوهانو د خپلواکې په اړه خاص راپورورکونکي د ستري محکمې لپاره د ټاکنو په دوران کې د ګواتیمالا څخه لیدنه وکړه. د ملکي څارنوال لپاره د ټاکنو د پروسې پر مهال، چې په تعقیب یې د قاضیانو ټاکنې ترسره شوې، او د هغوي د مدافعې د کار د یوې برخې په حیث، مدني ټولنې د خاص راپور ورکونکي د راپور په تړاو پراخې ارجاعګانې ترسره کړې، په خاص ډول، د خپلواکۍ، روڼوالي او مسلکیتوب د اړتیاوو په حواله. په ګواتیمالا کې د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، د خاص راپور ورکونکي د سپارښتنو د نافذه نړیوالو معیارونو د تصنیف د چارو سره مرسته کړې. د مدني ټولنې فعالانو د خپلې مدافعې د پیاوړې کولو لپاره د کمیسونونو په معرفې کولو سره د تصنیف چارې وکارولې څو په دې سره هغوي د ملکي څارنوال د پست لپاره د ډېرو لایقو نوماندانو سپارښتنه وکړي. د مدني ټولنې فعالانو په عامه بیانونو کې دغه سپارښتنې کارولې او د قانون جوړونې په پړاو کې د بدلون او د قضا د خپلواکۍ په حواله د چاروکو څخه د لا زیات احتساب غوښتنه کوي.

## 11.4 د ظرفيت جوړول او پياوړتيا

د بشري حقونو د ميکانيزمونو موندنې او سپارښتنې ښايي د دولتې چارواکو يا مدني ټولنې د فعالانو تر منځ د ظرفيت يو شمير تشې په ډاګه کړي ، کومې چې د بشري حقونو د پلي کولو په لړ کې د هغوي توان محدودوي. ځينې وختونه ، سپارښتنو نه يواځې تشې په ډاګه کړي بلکه د ظرفيت جوړونې د فعاليتونو د هڅونې لپاره يې لار هواره کړې ځو هغوي ته ځواب ووايې. په يو شمير قضيو کې، د مدني ټولنې فعالان ښايې په يوه ښه موقف کې وي څو تشې له منځه يوسي او کچه يې را ټيټه کړي او ممکن يو شمير يې د مدني ټولنو د فعالانو او د دولتې چارواکو لپاره د بشري حقونو د روزنو په برخه کې تجربې او مهارتونه ولري.

سپارښتنې ممکن هغه تشې چې د مدني ټولنې د فعالانو لخوا د ظرفيت جوړونې د فعاليتونو د پلي کولو په جريان کې چې له وړاندې تر غور لاندې نيول شوي دي منعکسې کړي. په دغو قضيو کې، سپارښتنو د مدني ټولنې د عمل او ظرفيت جوړونې په برخه کې د ټولنې په اهميت ټينګار کړی. په نورو قضيو کې، سپارښتنې ممکن هغو تشو ته چې د موجوده پروګرامونو لخوا ورته ځواب نه دی ويل شوی،اشاره وکړي. مدني ټولنه کومه چې د تعقيب په چارو کې ښکيله ده د ظرفيت د لا زياتو فعاليتونو د دوام د امکان ارزونه په لاندې توګه وکړي.

- د دې ارزيابۍ چې ايا د مدني ټولنې فعالان د اړتيا وړ تخصص، د موجوده سرچينو او د تمې وړ اغيزې په حواله د ظرفيت جوړونې د فعاليتونو د رسولو په موخه په ښه موقف کې دي. د دې ارزونه چې څنګه به د ظرفيت جوړونې نوې فعاليتونه د مدني ټولنې د فعالانو د لومړيتوبونو سره يو ځای واقع شي او د کار پلانونه د دې ارزونې يوه برخه جوړه کړي.
- د نهادونو او هدف وړ سازمانونو د اړتياوو د ارزونې ترسره کول، د بشري حقونو د پلې کولو په برخه کې د ښه والي د راوستو په موخه د ظرفيت د تشو د سمولو په هدف د هغوي د ارادې په شمول، او
- د ظرفيت جوړولو د نورو پروګرامونو د متمم کولو تحليلول، د نويو فعاليتونو اضافه شوی ارزښت، د هغوي تاثير او پايښت.

تجربو ښودلې چې دولتي چارواکي او همدارنګه د مدني ټولنو فعالان اکثرا د ظرفيت جوړولو د پروګرامونو په وړاندې ځرګند دريځ لري، خو دا په اتومات ډول د توقع وړ پايلې نه را منځ ته کوي. دغه په شاتلنې ښايي د بدلون د محدود چمتووالي ، د ګټه اخيستونکو په منځ کې د زيات ګډون په موخه د لوړې کچې او د ظرفيت جوړونې د فعاليتونو د محدودو طرحو ، (د بيلګې په توګه، نه پايښت،نا روښانه موخې، د ګټه اخيستونکو د پوهې او علم بيلابيلې کچې) يا ددې فاکتورونو د ترکيب له امله وي. دغه خطرونه بايد د ظرفيت جوړولو د پروګرامونو په طرح او د پايلو د تحليل پر مهال د اندازه شوې تاثير په برخه کې په غور وارزول شي.[13]

[13] د بشري حقونو د روزنو د تحليل په اړه د لارښود لپاره ، د بشري حقونو د روزنو د فعاليتونو ارزونه وګورئ.(د ملګرو ملتونو نشرات، HR/P/PT/18) .

**د عاج په ساحل کې د جنسي تاوتریخوالي په وړاندې د مبارزې په هکله د امنیتي ځواکونو د ظرفیت جوړونې د پروسې حساسول**

په ۲۰۰۹ کال کې د عاج د ساحل د نړیوالې دوره یي بیاکتنې په تعقیب، د (SOS Exclusion) غیر دولتی سازمان د عمل د پلان جوړولو لپاره، د پولیسو او پوځ لپاره د بشري حقونو د ظرفیت جوړولو په هکله د ابتدايي تمرکز په درلودلو سره د نړیوالې دوره یي بیا کتنې سپارښتنې وکارولې. د دې سازمان مشر وویل، «موږ د ښځو د حقونو په اړه د نړیوالې دوره یي بیا کتنې په تړاو دوه ورکشاپونه تنظیم کړل.»دا د ځینو کلیدي فعالانو سره د سپارښتنو د پلي کولو د وضعیت په اړه د ارزونې لپاره یو فرصت و، د بیلګې په توګه، د انسجام ، کورنۍ، ښځې او ماشوم وزارت،د عدلیې وزارت او د ملګرو ملتونو د ښځو ادارهله دې نه وروسته د جنسي تاوتریخوالي په وړاندې یو تولیز کمپاین چې د نړیوالې دوره یي بیاکتنې له سپارښتنو څخه هم و، په لاره واچول شو». «دا کمپاین موږ ته دا فرصت را کړ څو د مدني ټولنې فعالان، علماء، د انسجام او عدلیې وزارتونه او همدارنګه هغه ټولنې سره را غونډې کړو په کومو کې چې دا کمپاینونه ترسره شوي».

## 4.12 په تعقیبي فعالیتونو کې د جنډر د لرلید یو ځای کول

دا لاندې پوښتنې کولای شي د جنډر د یو ځای کولو سره کله چې تعقیبي فعالیتونه په لومړیتوب کې راځي مرسته وکړي:

- د هغو سپارښتنو او د تعقیب په چارو کې د اړوندو فعالیتونو لومړیتوب کوم چې په زیاته پیمانه ښځې او یا سړي متاثره کوي
- د جنډر لرلید په لومړیتوب لرونکې پروګرامونو کې څنګه شامل شوی؟ د جنډر د خاصو فعالیتونو او یا د جندر د اصلي مسیر له لارې
- د هغو سپارښتنو او د تعقیب په چارو کې د اړوندو فعالیتونو لومړیتوب کوم چې په زیاته پیمانه ښځې او یا سړي متاثره کوي
- د جنډر لرلید د لومړیتوب په مداخلتونو کې څنګه شامل شوی؟ د جنډر د خاصو فعالیتونو او یا په اصلي مسیر کې د جنډر له لارې
- ایا د حقونو ځینې درلودونکې کسان د متعدد تبعیض سره مخ شوي؟ ایا د تعقیب چارې کولای شي د هغوی وضعیت ته ځواب ووایې؟
- ایا د پلان شویو فعالیتونو موخه د حقونو د درلودونکو کسانو پیاوړي کول دي او د جنډر د تبعیض او نا برابریو په وړاندې مبارزه ده؟
- ایا د حقونو د درلودونکو بیلابیلو کسانو سره سلا مشورې ترسره شوي څو اقدامات په لومړیتوب کې راشي؟

کله چې د تعقیب فعالیتونه پلي کوئ:

- هغه اطلاعات را غونډ او راپور کړئ کوم چې د جنسیت او تنوع د نورو عنصرونو په واسطه ویشل شوي وي د بیلګې په توګه د عمر، قومیت،معیوبیت، ټولنیزو او اقتصادي موقفونو او داسې نور؛
- کله چې د جنډر په اړه کوم خاص معلومات شتون و نه لري، په راپورونو کې د تشې تصدیق په ښکاره توګه وکړئ؛
- د غونډو او روزنیزو او ظرفیت جوړولو پروګرامونو د تنظیمولو په وخت کې د ګډون کوونکو، روزونکو، یا نور کلیدی افرادو په منځ کې د جنسیت له توازن او د جنسیت له نظره د ځای (محل، وخت)، مطالبو او روښونو د حساسیت څخه ډاډ حاصل کړئ؛
- د جنډر د سیستماتیک تحلیل ترسره کول؛
- د هغو شریکباڼو سره چې د جنډر مسائلو په وړاندی حساس دی، کار وکړئ؛
- د مدافعې او د پوهاوې د لوړولو په فعالیتونو کې د جنډر د تساوي په اړه د پیغامونو شاملول او د جنډر د حساسیت د ژبې او انځورونو کارول.

## 4.13 د شمولیت، تنوع او لاسرسي منعکسول

د تعقیب د عملونو د پلانولو او پلې کولو پر مهال:

- د شریکباڼو تنوع په نظر کې ونیسئ؛
- ډاډ حاصل کړئ چې د لرلیدونو تنوع په نظر کې ونیول شي او په تعقیبي فعالیتونو کې منعکس شي؛
- د لړکیو او معیوبو کسانو په شمول، د متنوع شالیدونو د درلودونکو کسانو د ګډون په موخه د لاسرسي په لارو چارو غور او د معیوبو کسانو لپاره د اسنادو او سرچینو د لاسرسي په اړه د اقداماتو نیول.

## 4.14 په قضايې عمل او قضايې دعوی کې د سپارښتنو کارول

د مدني ټولنې زیاتره فعالان په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د هغو انفرادي کسانو او ډلو څوک چې د قضايې او شبه قضايې میکانیزمونو له لارې د خپلو حقونو غوښتنه کوي، ملاتړ کوي. په دې کې ښايي شکایت کوونکو ته د حقوقی مرستو برابرول، د د کارپوهانو حقوقي نظریې او د بشري حقونو د قانون د تطبیق په موخه قاضیانو، څارنوالانو، قانون پوهانو او مدافع وکیلانو ته په کینیا کې عمومي درملو ته د لاسرسي ادعا د ظرفیت لوړول شامل وي او یا هم د بشري حقونو فعالان او محاکم په دې هڅول چې د بشري حقونو نړیوال قانون تطبیق کړي.

### په کینیا کې عمومي درملو ته د لاسرسي ادعا

د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۰، د کینیا سترې محکمې په یوه بې سارې پریکړه کې حکم وکړ چې د ۲۰۰۸ کال د جعل ضد قانون ځینې برخې په جنیریکو درملو د تطبیق وړ نه دي- څکه نو د لاسرسي وړ درملنې څخه ملاتړ کوي. دا قضیه د هغو دریو کسانو لخوا څوک چې په ایچ آی وی اخته وو درج شوې. KELIN، د بشري حقونو هغه سازمان دی چې په ختیځه افریقا کې د ایچ آی وی سره د تړلو بشري حقونو د ساتنې او ترویج په برخه کې کار کوي او د عریضه ورکونکو د مهمو سلا مشورو لپاره د تحقیق ملاتړ برابروي. دا قضیه د ۲۰۰۹ کال راهیسی دوام لري او د ۲۰۰۸ کال د جعل ضد قانون ځینې برخې یې د ننګونو سره مخې کړې او د هغو کسانو لپاره چې په ایچ آی وی ککړ دي د (ARVs) یا antiretroviral درملو په شمول د جینیریکو درملو واردات ګواښلې دي. د روغتیا حق په اړه د ملګرو ملتونو خاص راپور ورکونکی په فیصله کې یو لنډ دوستانه او په کافي اندازه اوږد نقل قول درج کړ.

په خپل قضاوت کې، ښځینه قاضي Ngugi حکم کړی چې معنوي شتمني باید د ژوند حق، د روغتیا حق او انساني وقار لکه څنګه چې د کینیا په اساسي قانون کې تشریح شوي تر پښو لاندې نه کړي. انحصار درلودونکي کسان به په دې قادر نه وي څو د دې قانون په کارولو سره په مشروع توګه د جینیریکو درملو د وارداتو مخه ډب کړي لکه څنګه چې د عریضه کونکو لخوا ویره څرګنده شوې.[14]

د قضایي پروسو په دننه کې د بشري حقونو د نړیوال قانون کارونه او هڅونه په ملي او سیمه ییزه کچه د بشري حقونو د قوانینو سیستم تقویه کوي. د تړون د مقرراتو تفسیر چې د معاهدې د ارګانونو په عمومي تبصرو کې ځای شوي، کیدای شي په هغه څه باندې رڼا واچوي چې یو خاص حق یې غوښتنه کوي او ښایي د قضیو په حل کې د یوې ملي محکمې لخوا تر غور لاندې ونیول شي. په ورته ډول، د بشري حقونو د میکانیزمونو له اړخه خاصو سپارښتنو ته ارجاع کول ښایي د بشري حقونو د درلودونکو ادعاوې تقویت کړي.[14]

## 15.4 د تعقیبي عملونو او ښو فعالیتونو د پایلو شریکول

د بشري حقونو نړیوال قانون او اړوند میکانیزمونه ښایې د حقونو د درلودونکو کسانو لپاره له واقعیتونو څخه لېرې وانګیرل شي. څنګه کیدای شي په ژنیو کې د خپلواکو کارپوهانو سپارښتنې د عادي خلکو ژوند متاثره کړي؟ څنګه کیدای شي هغوی د دندو د درلودونکو کسانو چلند په ښه توګه متاثره کړي څوک چې ممکن په دې پوه نه شي چې د معاهدې ارګان کوم دی یا خاص راپور ورکونکی څه کوي؟ د مدني ټولنې د تعقیبي کار له امله په یو شمیر قضیو کې ممکن بدلون را منځ ته شي.

د تعقیبي عملونو او ښو فعالیتونو د تعقیبي پایلو مستند کول، شریکول او نشرول نور هڅوي څو ځانونه ښکیل کړي او د خپلو زمینو او لومړیتوبونو په سمون کې تجربې کاپي او اقتباس کړي.

[14] فیصله وګورئ: http://bit.ly/L1cEu5 (د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۴ ورځ لاسرسی شوی)

### په شرقي اروپا او مرکزي آسیا کې د ناروغانو د پاملرنې په برخه کې د بشري حقونو د قضیو د قضایې دعوی په هکله د سرچینو او فعالیتونو شریکول

د بشري حقونو په اړه د ناروغانو د پاملرنې پروژې د ناروغانو په استازیتوب د بشري حقونو د قضیو د قضایې دعوی په برخه کې د علاقه مندو قانون پوهانو لپاره د هیواد د کچې حرفه یې لارښودونه چمتو کړي دي. دا لارښودونه عملي دي،د مرافعې غوښتنې او بدیل میکانیزمونه لري، د بیلګې په توګه، د یوه دولتي چارواکې او د طبي جواز ورکولو د ارګانونو په حیث، د تړون د ارکان د قوانینو د سیستم او د کار د ځانګړو طرزالعملونو د کره بیا کتنې په شمول، په ملي ، سیمه ییزه او نړیوالو کچو کې د ناروغ او د حقونو او مسولیتونو د برابرونکي معاینه کول. دا پروژه همدارنګه د ټولنې پر بنسټ یو لړ ګډ فعالیتونه پر مخ بیایې، د بیلګې په توګه، د موادو او سرچینو د شریکولو لپاره یوه ویب پاڼه. د ټولنې پر بنسټ ګډ فعالیتونه درې اصلي برخې لري: د قانون او روغتیا په اړه زده کړې، د ناروغ د پاملرنې او د رسنیو د اسبابو په برخه کې د بشري حقونو روزنې.[15]

د بشري حقونو د میکانیزمونو د اغیزو په اړه اطلاعاتو ته د هغو کار پوهانو لخوا چې د دې میکانیزمونو لپاره کار کوي هم ډیر ارزښت قایل شوی.[15]

## 4. 16 د موجوده تعقیبي طرزالعملونو او د بشري حقونو د میکانیزمونو د فعالیتونو سره ښکیلتیا

تعقیبي طرزالعملونه او فعالیتونه د کومو رهبري چې د بشري حقونو د میکانیزمونو له خوا کیږي تکیه یې د حکومتونو په همکاري او د مدني ټولنې د سازمانونو په ګډون او برخې اخیستنې ده. د لارښود لاندنې برخه موجوده تعقیبي طزرالعملونه او فعالیتونه تشریح کوي.

[15] http://health-rights.org/

## 5. تعقيبي طرزالعملونه او د بشري حقونو د میکانیزمونو فعالیتونه

د بشري حقونو تر سپارښتنو وروسته د را منځ ته شوې بدلون ارزول، پر دې پوهیدل چې په یوه هیواد کې وروسته تر هغه چې د بشري حقونو د میکانیزمونو تر طرزالعملونو لاندې وڅیړل شول، څه پیښ شول ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو پر جوړښت د اغیزې درک کول د بشري حقونو د میکانیزمونو بنسټیز مصلحت او هدف دی. د هغوی د تاسیس راهیسې، ټولو میکانیزمونو دا درک کړې چې د هغوی اهمیت په هغه مثبت بدلون کې چې دوی یې کولای شي را منځ ته کړي نغښتی دی. د مثبت بدلون شواهد د هغوی د موثریت ثبوت دی. د «ثبوت لپاره پلټنې» د تعقیب د بیلابیلو ډمونو د را منځ ته کولو لپاره لار هواره کړې کوم چې هر میکانیزم ورته وده ورکړې. ځینو یې په تاسیس شویو طرزالعملونو کې رسمي بڼه خپله کړې، د بیلګې په توګه، د یو شمیر تړون کونکو د ملاحظاتو د پایلو په وړاندې تعقیبي طرزالعملونه. نور یې بیا ثابت فعالیتونه دي، د بیلګې په توګه، د یوه هیواد څخه د لیدنو په هدف د ځینو ځانګړو راپور ورکونکو لخوا د چمتو شویو راپورونو تعقیب. په یو شمیر نورو مثالونو کې تعقیب ښایي د عمومیت پرته یو نوښت وي، د بیلګې په توګه، د بشري حقونو د سپارښتونو د پلې کولو په برخه کې د یوه سیمه ییز ورکشاپ لخوا د تجربو شریکول. لاندې برخې دا په لا تفصیل سره وړاندې کوي.

### 5.1 د بشري حقونو د تړون ارګانونه

#### د ملاحظاتو د پایلو په اړه تعقیبي طرزالعملونه

د تړون خاوو داسې طرزالعملونه ځای پر ځای کړي چې موخه یې له هغو هیوادونو سره مرسته کول دي چې هدف یې د ملاحظاتو په پایلو کې د ځای شویو سپارښتنو په اړه عمل کول یا د هغو قضیو په اړه د پریکړې نیول دي کوم چې د انفرادي شکایتونو د طرزالعملونو لاندې راوړل شوي. د شکنجې په وړاندې کمیټې، د نژادي تبعیض د له منځه وړلو په هکله کمیټې، د بشري حقونو کمیټې،د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمیټې او د اجباري ورکونې په هکله کمیټې رسمي تعقیبي طرزالعملونه اتخاذ کړي دي. د تړون دغو پنځو واړو ارګانونو د خپلو ملاحظاتو په پایلو کې غوښتنه کړې چې هیوادونه دې د یوه کال په دننه کې(د ښځو په وړاندې د تبعیض د مخنیوي په اړه د کمیټې په صورت کې د دوو کلونو په دننه کې) د خاصو وړاندیزونو په غبرګون کې د ترسره شویو تدبیرونو په اړه یا «د لومړیتوب د اندیښنو په اړه» کوم چې په چټکۍ سره د پلې کیدو وړ دي، بیا راپور ورکړي. دغه کمیټه د تعقیب په اړه یو تن راپور ورکونکی یا همغږې کونکی ټاکي، او هغه راپورونه تعقیبوي کوم چې د هیوادونو لخوا سپارل شوي او کمیټې ته یې وړاندې کوي. د دې په خاطر چې د راپور په هکله او د ملاحظاتو د پایلو د تطبیق څخه ډاډ حاصل شي، د تړون د ارګانونو ځینو غړو، د هغوی په بلنه، د هیوادونو څخه لیدنې ترسره کړې.

د بشري حقونو د کمیټې په حواله، کله چې دوی د یوه هیواد له اړخه د تعقیب په اړه راپور ترلاسه کړي، یو ځانګړی راپور ورکونکی د تعقیب په موخه په هره ناسته کې د پرمختګ په اړه راپور وړاندې کوي. په دې کې د هیواد د تعقیبي راپور او د مدني ټولنې د سازمانونو او نورو سرچینو د معلوماتو او همدارنګه د کمیټې هغه ارزونه چې بنسټ یې د کمیټې د معیارونو د تعقیب په ارزونه ولاړ دی، یوه خلاصه شامله ده(لاندنې فهرست ته مراجعه وکړئ). کمیټه وړاندې د تعقیبي راپور په اړه د ترسره شوې پرکړې په هکله هیواد ته اطلاع ورکوي. که چیرې یو هیواد د تعقیبي طرزالعمل سره همکاري نه کوي، یا داسې تدبیرونه چې د کمیټې لپاره د قناعت وړ نه وي، نیسي، راپور ورکونکی کولای شي د هیواد د استازي سره د ناستې د ترسره کولو غوښتنه وکړي.

## د بشري حقونو د کمیټې د تعقیب د څېړلو معیار

**ځواب ویل/د قناعت وړ عمل**

A ځواب تر زیاتې اندازې د قناعت وړ و

**ځواب ویل/ عمل تر یوې اندازې د قناعت وړ و**

B1 ریښتنې عمل ترسره شوی، خو اضافي معلوماتو ته اړتیا ده

B2 ابتدایي عمل ترسره شوی، خو اضافي معلوماتو ته اړتیا ده

**ځواب ویل/ عمل د قناعت وړ نه و**

C1 ځواب ترلاسه شوی خو اتخاذ شوي عملونه سپارښتنې نه عملي کوي

C2 ځواب تر لاسه شوی خو د سپارښتنو سره ارتباط نه لري

**د کمیټې سره نه همکاري**

D1 د تعیین شوي وخت د ننه هیڅ ځواب نه دی تر لاسه شوی، یا په راپور کې کومې خاصې پوښتنې ته ځواب نه دی ویل شوی.

D2 د یادونې (یادونو) وروسته هیڅ ځواب نه دی ترلاسه شوی.

**ترسره شوي تدبیرونه د کمیټې د سپارښتنو سره په مغایرت کې دي.**

E ځواب په ډاګه کوي چې ترسره شوې سپارښتنې د کمیټې د سپارښتنو سره په ټکر کې دي.

## مدني ټولنه څنګه ګډون کولای شي؟

د «ضمني»یا «بدیل» راپورونو په څیر کوم چې د هیواد د راپورونو او د مسایلو د فهرست په اړه د ملاحظې لپاره وړاندې شوي، د مدني ټولنې فعالان ښایي د تعقیبي طرزالعمل په چوکاټ کې به معلومات سپاري. دغه سپاښتنې باید په خاص ډول په هغو سپارښتنو کومې چې د تعقیبي طرزالعمل لپاره د ملاحظاتو په پایله کې مشخصې شوي تمرکز وکړي، او د چارواکو لخوا د ترسره شویو عملونو په اړه کره معلومات[16] وړاندې کړي او همدارنګه د هغوی موثریت و ارزوي. د سپارښتنو د پلي کولو لپاره د لازمو تدبیرونو د نیولو په برخه کې د هر ډول پاتې راتللو یادونه وشي. د مدني ټولنې فعالان ښایي وغواړي د هغو ځوابونو په اړه چې د دولت لخوا برابر شوي تبصره وکړي. د مدني ټولنې د فعالانو لخوا د سپارښتنو لپاره د تعقیب طرزالعمل د ورته قوانینو څخه اطاعت کوي کوم چې د هیواد د راپورونو او د مسایلو د فهرست د ملاحظاتو په هدف برابر شوی او عامه بلل شوي او د د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر په ویب پاڼه موجود دی، یا محرم سانل شوی، که چیرې دا د تسلیمونکی سازمان غوښتنه وي.

### په ملي کچه د ماشوم د حقونو د کمیټې د ملاحظاتو د پایلو کارول

د دې لپاره چې د یوه دوره یې روښ چې موخه یې د ماشوم د حقونو د کمیټې د راپور ورکولو په پروسه کې ښکیلتیا ده، ترویج وشي او مدني ټولنه دې ته وهڅوي څو په خپلو مدافعه یې کارونو کې د ماشوم د حقونو د کمیټې سپارښتنې په بشپړه توګه وکاروي. د ماشوم د حقونو اتصال د تعقیبي فعالیتونو په هکله یو شمیر قضیې را غونډې کړې چې د مدني ټولنې د فعالانو او د بشري حقونو د داخلي سازمانونو لخوا ترسره شوې.[17]

د ټرون د ارګانونو غړي ښایي د پلي کولو په اړه په سیمه ییزو، ولایتي او ملي ورکشاپونو کې ګډون وکړي کوم چې د مدني ټولنې، ملګرو ملتونو، نمایندګیو او د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر یا دولتونو لخوا تنظیم شوي. په دغو ورکشاپونو کې د مدني ټولنې ګډون هڅول شوی.[17]

---

[16] د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمیټې غوښتنه کړې چې سپارنې باید د ۳۵۰۰ تورو څخه زیاتې نه وي.

[17] www.childrightsnet.org/NGOGroup/CRC/Followup

### د شکنجې د مخنیوي په اړه د فرعي کمیټې تعقیبي لیدنې

د شکنجې د مخنیوي په اړه فرعي کمیټه د شکنجې په وړاندې د کنوانسیون د اختیاري پروتوکول لاندې په ۲۰۰۷ کال کې را منځ ته شوه، دغې کمیټې د پولیسو د ماموریتونو،بندیخانو، رواني روغتیا او ټولنیزي پاملرنې د نهادونو په شمول، د هیوادونو په قلمرونو کې د توقیف ځایونو او د ازادۍ د سلب د نورو ځایونو څخه د حقیقت موندنې په موخه لیدنې ترسره کړي دي. د یوه هیواد څخه د لیدنې په پای کې، فرعي کمیټه خپلې سپارښتنې او ملاحظات دولت ته د یوه محرم راپور له لارې وړاندې کوي.

که چیرې د شکنجې د مخنیوي په اړه فرعي کمیټه دا مناسب وشمیري، نو ښایي کمیټه د یوې عادي لیدنې وروسته د تعقیب په موخه د یوې لنډې لیدنې وړاندیز وکړي. د ۲۰۱۰ کال په سپټمبر کې، د شکنجې د مخنیوي په اړه فرعي کمیټې خپله لومړنۍ تعقیبي لیدنه د پاراګوای د هیواد څخه ترسره، په کومه کې چې مدني ټولنې برخه اخیستې وه.

## د انفرادي شکایتونو په اړه د پریکړو تعقیب

د بشري حقونو د تړون ارګانونه ښايي د ځینو حالاتو لاندې، په انفرادي شکایتونو یا مفاهمو غور وکړي.[18] د دې طرزالعمل لاندې هر انفرادي شخص چې ادعا کوي د یوه ځانګړې تړون لاندې د هغه یا د هغې په حقونو تیری شوی، کولای شي د یوه دولت په وړاندې چې د سند یو طرف دی د تړون د یوه ارګان سره خپل شکایت درج کړي، او د تړون د ارګان په وړتیا یې اعتراف کړی چې کولای شي د انفرادي اشخاصو شکایتونو ته ځواب ووایې. شکایت لومړۍ د شمولیت د اړتیاوو پر بنسټ ارزول کیږي. که چیرې د شاملیدو وړ وي، شکایت ته د شکایت د وړ والي پر بنسټ رسیدګې کیږي، د تړون ارګان په دې هکله پریکړه کوي چې ایا د تړون کومه مقرره تر پښو لاندې شوې او که نه. که چیرې د تړون ارګان پریکړه کوي چې شکایت کونکی(شکایت کونکي) د سرغړونې قرباني دی، هیواد اړ دی چې په دې هکله ، په عادي ډول د شپږو میاشتو په دننه کې د هغو اقداماتو په اړه کوم چې په دې هکله دولت ترسره کړي او موخه یې د تړون د ارګان پریکړو ته جهت ورکول دي،معلومات برابر کړي. د دولت له اړخه بیا ځواب شکایت کونکی ته استول کیږي څوک چې ښايي د هیواد له اړخه د نظر د اظهار په اړه خپل ملاحظات وړاندې کړي.

---

[18] د ۲۰۱۳ کال تر جولای پورې، د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون، د نژادي توپیر د ټولو بڼو د له منځه وړلو په هکله د نړیوال کنوانسیون، د خشونت په وړاندې د کنوانسیون، د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو بڼو د له منځ وړلو په هکله د کنوانسیون، د اجباري بې درکه کولو څخه د ټولو کسانو د ساتنې لپاره د نړیوال کنوانسیون، د اقتصادي، ټولنزو او کلتوري حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون، او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله د نړیوال کنوانسیون لپاره دغه طرزالعمل موجود و. کله چې ۱۰ هیوادونه د ۷۷ پخوانې مادې لاندې اړینې اعلامیې ترسره کړي او د وروستي سند په تړاو نوی اختیاري پرتوکول تصویب کړي، دا به د ټولو کډوالو کارګرانو او د هغوی د کورنیو د غړو د حقونو د ساتنې په هکله د نړیوال کنوانسیون او د ماشوم د حقونو په هکله د کنوانسیون لپاره نافذ شي.

د تړون ځینې ارګانونه، په خاص ډول د بشري حقونو کمیټې، د شکنجې په وړاندې کمیټې، د نژادي توپیر د مخنیوي په اړه کمیټې او د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمیټې داسې طرزالعملونه را منځ ته کړي چې موخه یې د کمیټې د پریکړو د پلي کولو څخه د نظارت په برخه کې د ډاډ حاصلول دي. دا ډول طرزالعملونه د یوه راپورورکونکي په ټاکلو کې چې دنده یې د پریکړو د پلي کولو تعقیب دی شامل دي. دا راپور ورکونکي د یوه وخت لپاره ټاکل شوي، یا د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو د کمیټې په صورت کې، هغوي د ځانګړو دوسیو د تعقیب دنده لري. کله چې د دولت ځواب د ترسره شویو اقداماتو په اړه چې موخه یې د پریکړو پلې کول دي د قناعت او تمې وړ نه وي، نو ښایي راپور ورکونکی د هیواد د ډیپلوماتیکو استازو، معمولا په ژنیو او نیویارک کې د دایمي ماموریتونو د ډیپلوماتانو سره سلا مشورې ترسره کړي.

## مدني ټولنه څنګه کولای شي ګډون وکړي؟

په ځینو مواردو کې چیرې چې د مدني ټولنې فعالان د انفرادي اشخاصو په شکایتونو کې ښکیل وي(د بیلګې په توګه، څکه چې دوی د عریضې د ترتیب کولو په برخه کې د شکایت کونکې سره مرسته کړې)، دوی مکن اطلاعات برابر کړي چې څنګه پریکړې پلې شوې.

### د بشري حقونو د پریکړو د تطبیق ارزونه

په ۲۰۱۰ کال کې، د (Open Society) د عدالت نوښت د قضاوت څخه تر عدالت پورې تر سر لیک لاندې یو راپور خپور کړ چې موخه یې د بشري حقونو د نړیوالو او سیمه ییزو پریکړو تطبیق و، کومو چې د بشري حقونو د نړیوالو او سیمه ییزو ارګانونو یعنې د ملګرو ملتونو د تړون د ارګانونو،د افریقایې، اروپایې او امریکایې سیستمونو د پریکړو د تطبیق په برخه کې د ننګونو معاینه کول و. د راپور په باور او د تیرو ۲۵ کلونو د لاسته راوړنو سربیره، دغه ټول سیستمونه په عمل کې د خپل قضاوت او بدلون په برخه کې د یو لړ خنډونو سره مخ و. په یو شمیر زیاتو مواردو کې، یو شمیر مهمو پریکړو کوم مهم اصلاحات را منځ ته نه کړل.

د تړون د ارګانونو د پریکړو د تطبیق د جزئیاتو د مطالعه کولو په وخت کې، راپور موندلې چې «ښه تطبیق په هغو قضیو کې واقع شوی کومې چې ښه سیاسي څرنګوالی لري او یا په هغه قضیو کې کومې چې د هیوادونو په وړاندې ترتیب شوې وي او د قانون د حاکمیت پر مخ تللې عنعنه لري واقع شوي. چیرې چې تطبیق ترسره شوی وي، نو دا په مکرر ډول د یوې غښتلې مدني ټولنې د شتون له امله ممکن کیږي چې وکولای شي د کمیټې تعقیبي هڅې سرته ورسوي او نور داخلي فشارونه تطبیق کړي.»

## 2.5 د بشري حقونو شورا

### د بشري حقونو د شورا د کار تعقیب

د عمومي اسامبلې ۲۵۱/۶۰ پریکړه لیک د بشري حقونو شورا را منځ ته کړه او پریکړه یې وکړه چې د شورا د کار میتودونه **باید د سپارښتونو او د هغوي د تطبیق په چارو کې د خبرو اترو تعقیب ته اجازه ورکړي.**

شورا د بشري حقونو موضوعات تعقیبوي او هغه په لاندي ډول څیړي:

- په هغو پریکړه لیکونو او پریکړو کې چې دا شورا یې اتخاذوي د تعقیب په موخه د روښانه ارجاعګانو را منځ ته کول. پریکړه لیکونه په نمونه یې ډول داسې مقررې لري چې ښايي د شورا «موضوع به د خبرو اترو سرلیک وي». دا په دې مانا چې موضوع به په راتلونکې وخت کې هم په شورا کې د خبرو اترو سرلیک وي.
- د اجنډا د موادو پر بنسټ کوم چې د وخت په تیریدو سره تکراریږي د منظمو او خاصو جلسو له لارې د شورا د ناستو دایرول. دا په یقین سره د منظمو جلسو موضوع ده، خو کیداي شي د ورته یا عین موضوع په اړه ځانګړې ناستې را وبولې(د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۲-۲۰۱۱ کلونو کې د سوریې په عربي جمهوریت کې د بشري حقونو د حالت په هکله خاصې ناستې).
- د ځینو اقداماتو د ترسره کولو او په راتلونکې جلسه کې شورا ته د بیا راپور ورکولو په هدف خپلو میکانیزمونو ته د کمکي ارګانونو یا د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر او خاصو طرزالعملونو په شمول دنده سپارل. شورا ممکن د یوه موقتي میکانیزم د را منځ ته کولو پریکړه هم وکړي، د بیلګې په توګه، د څیړنو کمیسیون، یا د حقیقت موندنې ماموریت چې دنده یې د بشري حقونو د سرغړونو څیړل دي او شورا ته د رسیدګې په موخه د موندنو سره یو ځای راپور وړاندې کړي. هغه نورې دندې چې په نمونه یې توګه د شورا لخوا ټاکل شوې په هغو کې د څیړنو درک، د کارپوهانو د ناستو تنظیم او هیات منصفه شامل دي.

### مدني ټولنه څنګه کولای شي ګډون وکړي؟

د تعقیب پورته تشریح شوی څرنګوالی د شورا د کار معیاري میتودونه دي. څکه نو د مدني ټولنې د ګډون لپاره شرایط ورته او مشابه دي او د انجوګانو لپاره دا امکان را منځ ته کوي چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا سره یو ځای د مشورتې موقف څخه برخمن شي، لیکلی او شفاهي بیانونه ترتیب کړي او تر څنګ یې فعالیتونه تنظیم کړي. هغه انجوګانې چې د بشري حقونو د شورا په ناستو کې د ګډون په موخه ژنیو ته سفر نه کوي کولای شي د ویډیویې پیغامونو له لارې د اجنډا د ځینو

موادو لپاره شفاهي بیانونه جوړ کړي. د لا زیاتې لارښونې لپاره، مهرباني وکړئ د مدني ټولنې په اړوند د د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر کتابګوټې ته مراجعه وکړئ - د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرام سره کار کول او د بشري حقونو د شورا په اړه[19] د مدني ټولنې لپاره د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر عملي لارښود او همدارنګه د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر ویب پاڼې.[20]

د لیکل شویو او شفاهي بیانونو او په څنډو کې د فعالیتونو سربیره، دا یو معیاري فعالیت دی څو مدني ټولنې ته بلنه ورکړل شي چې د خیرنو د بهیر سره مرسته وکړي او د کارپوهانو او منصفه هیئت په ناستو کې کومو ته چې د شورا لخوا اختیارات ورکړل شوې، ګډون وکړي.

د دې علاوه، انجوګانې کولای شي په پرانیستو غیر رسمي ناستو کې چې د شورا سره په موازي ډول ترسره کیږي په کومو کې چې د پریکړه لیکونو د مسودې په متن خبري اترې کیږي، ګډون وکړي.

په پای کې، د شورا پریکړه لیکونه او پریکړې د هیوادونو هغه ژمنې چې موخه یې د بشري حقونو ساتنه او ترویج دی،منعکسې کوي. مدني ټولنه کولای شي یو وار بیا، خپل فعالیتونه طرح او لومړیتوب بندي کړي او د بشري حقونو د هغو ژمنو په پلې کولو کوم چې د شورا په پریکړه لیکونو او پریکړو کې تصریح شوي،ټینګار وکړي.

## کمکي ارګانونه، میکانزمونه او اختیارات

د شورا د کمکي ارګانونو او میکانیزمونو پواسطه د لاندې مواردو په شمول یو شمیر زیاتې سپارښتنې صادرې شوي:

- نړیواله دوره یې بیاکتنه(د لارښود ۴.۵ برخه وګورئ)
- د بشري حقونو د شورا مشورتي کمیټه
- د شکایت طرزالعمل
- ځانګړې طرزالعملونه(د لارښود ۳.۵ برخه وګورئ)
- ټولنیزه مجتمع
- د لږکیو د مسایلو په هکله مجتمع
- د بومی خلکو د حقونو په اړه تخصصی میکانیزم؛ او
- د سوداګرۍ او بشري حقونو په اړه مجتمع.

---

19 په دې پته موجود دی: www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages/CivilSociety.aspx

20 www.ohchr.org/EN/HRBodies/HRC/Pages/NgoParticipation.aspx

په دغو ارګانونو کې د مدني ټولنې د ګډون په اړه د لارښود لپاره مهرباني وکړئ د مدني ټولنې په اړه د د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر کتابګوټې ته مراجعه وکړئ- د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرام سره کار کول، د بشري حقونو د شورا په اړه د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود او د ټولنيزې مجتمع په اړه عملي لارښود.[21]

## 3.5 خاص طرزالعملونه

### د هيواد د ليدنو په اړه تعقيب

د خاصو طرزالعملونو اختيارات درلودونکي د هيواد څخه د ليدنې په موخه د هيواد بلنې ته اړتيا لري. د هغوي د ليدنې د غوښتنو لپاره د خاصو طرزالعملونو د تعقيب پواسطه:

- د هغوي په راپورونو، ويب سايټونو، او د عامه فعاليتونو پر مهال، او په رسنيو کې د ليدنې په موخه خلکو ته د هغوي د غوښتنو بيانول
- د اړوندو هيوادونو د ديپلوماتيکو استازو سره د ناستو دايرول
- د هيواد يا سيمې څخه د کارې ليدنو ترسره کول کوم چې کولای شي يوې رسمي بلنې ته لار هواره کړي(د بيلکې په توګه، د يوه علمی سفر) تر سره کول؛ او
- د هغوي د غوښتونو او په عامه توګه د هغو د خپرولو په اړه د رسمي يادداښتونو ليکل.

کله چې سفر ترسره شي، ځانګړي نهادونه د تعقيب يو لړ فعاليتونه ترسره کوي. په هغو کې لاندې موارد شامل دي:

**۱. د هيواد د ليدنو تعقيب.** يو شمير زيات نهادونه د هيواد د پخوانيو ماموريتونو د تعقيب په موخه ليدنې ترسره کوي. دا ليدنې د پخوانيو ليدنو د سپارښتونو او موندنو په وړاندې د اندازه شوي پرمختګ او په شا تګ کره ارزونه برابروي. تعقيبي ليدنې يو ښه فعاليت دی، په کال کې تر ۴۰-۵۰ ليدنو پورې کومې چې د ځانګړو نهادونو لخوا ترسره کيږي، تعقيبي ليدنې دي، دا د کمو سرچينو له امله دي.

[21] په دې پته موجود دی: www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages/CivilSociety.aspx

### د هیواد د تعقیبي لیدنو بیلګې

د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشوم د فاحشه ګرۍ او د ماشوم د لوڅو انځورونو په هکله خاص راپور ورکونکی

- ۲: ګواتیمالا (A/HRC/22/54/Add.1)

د شکنجې او نورو ظالمانه،غیر انساني یا تحقیر امیزه سلوک او رټنې په اړه خاص راپور ورکونکی

- ۲۰۱۲ اروګوای (A/HRC/22/53/Add.3)

د نژاد پرستي، نژادي تبعیض، د نورو څخه ویرې او نورو د نه زغم وړ معاصرو بڼو په هکله خاص راپور وررکونکی

- ۲۰۱۱: هنګري (A/HRC/20/33/Add.1)

د ښځو په وړاندې د خشونت د هغوي د لاملونو او پایلو په هکله خاص راپور ورکونکی

- ۲۰۱۱: د امریکا متحده ایالتونه (A/HRC/17/26/Add.5)
- ۲۰۱۰:السلواډور(A/HRC/17/26/Add.2) او الجیریا (A/HRC/17/26/Add.3)

د ترهګرۍ سره د مبارزې پرمهال د بشري حقونو او اساسي ازادیو د ترویج او ساتنې په اړه خاص راپور ورکونکی

- ۲۰۱۱: تونیس (A/HRC/16/51/Add.2)

**۲. تعقیبي راپورونه.** یو شمیر نهادونه د دولت، د بشري حقونو د ملي نهادونو او مدني ټولنې لخوا د برابرو شویو معلوماتو پر بنسټ تعقیبي راپورونه خپروي. د هیواد د لیدنو په اړه د توجه وړ تعقیبي راپورونو فعالیتونه د اجباري یا غیر رضاکارانه لا درکه کیدلو په هکله د کاري ډلې، د شکنجې په اړه دخاص راپور ورکونکی، د غیر رسمي، د په خپل سر یا اختیاري اعدامونو په هکله د خاص راپور ورکونکی او د مذهب او عقیدې په هکله د آزادۍ د خاص راپور ورکونکی لخوا چمتو شوي.

### د اجباري لا درکه کېدلو په اړه د کاري ډلې تعقیبي راپورونه

په ۲۰۱۰ کال کې کارې ډلې د اجباري لا درکه کیدلو په اړه د خپلو تعقیبي راپورنو نمونه تصویب کړی، او فهرستونه یې تنظیم کړي څو د کاري ډلې سپارښتنې او د حالاتو په اړه کله چې د هیواد څخه لیدنې ترسره شوې یوه لنډه شرح منعکسه کړې، او د دولتی او غیر دولتي سرچینو څخه د کاري ډلې لخوا د راغونډو شویو معلوماتو پر بنسټ د ترسره شویو اقداماتو بیا کتنه وکړي. د هغه وخت څخه راهیسې، کاري ډلې د کولمبیا،السلوادور،ګواتیمالا، هاندوراس، مراکش او نیپال څخه د لیدنو په تعقیب د اجباري لا درکه کیدلو په حالت کې د پرمختګ او د شا کیدنو په هکله تعقیبي راپورونه صادر کړي.

### د مذهبي چارو او عقيده یې ازادیو په هکله د خاص راپور ورکونکی تعقیبي فهرستونه

د مذهبي چارو او عقیده یې ازادیو په هکله خاص راپور ورکونکی د هیواد څخه د لیدنو څخه وروسته تعقیبي مکتوبونه استولي څو په ملي کچه د سپارښتنو د تطبیق په هکله تازه معلومات تر لاسه کړي. د هغو هیوادونو په اړه تعقیبي فهرستونه د کومو څخه چې د ۲۰۰۵ کال را هیسې لیدنې ترسره شوي او په کومو فهرستونو کې چې د هیوادونو د راپور پایلې او سپارښتنې شاملې دي. په دې کې د ملګرو ملتونو د اړوندو اسنادو، د نړیوالې دوره یې بیا کتنې، د خاصو نهادونو او د تړون د ارګانونو په شمول، تعقیبي معلومات هم شامل دي.[22]

**۳. تعقیبي پیښې.** د خاصو نهادونو، دولتونو، د بشري حقونو د ملي نهادونو، مدني ټولنې یا د بشري حقویو د عالي کمشنر دفتر (OHCHR) په نوښت کیدای شي د پرمختګ د ارزونې او د هیواد د لیدنو د سپارښتنو د تطبیق په برخه کې د تجربو او ننګونو د شریکولو په اړه د پیښو ملي، سیمه ییز یا نړیوال تعقیب ګټور وي. کیدای شي دا ډول پیښې د ګردي میزونو،د کارپوهانو د ناستو یا کنفراسونو په بڼه کې وي.

### په موریتانیا کې د مرییتوب په هکله ورکشاپ

د ۲۰۱۳ کال په جنورۍ کې، د مرییتوب د معاصرو بڼو په هکله خاص راپور ورکونکي د خپلو سپارښتونو د تعقیب په اړه چې د موریتانیا څخه د هغې د لیدنې نه وروسته را منځ ته شوې په یوه تعقیبي ورکشاپ کې ګډون وکړ. دولتي چارواکو او د مدني ټولنې سازمانونو په دې ورکشاپ کې ګډون وکړ او د خاص راپور ورکونکی لخوا یې د را منځ ته شویو وړاندیزونو په موخه یوه طرح جوړه کړه. په موریتانیا کې د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د مدني ټولنې د سازمانونو سره کار کړې څو دولت د طرحې د رسمې تصویب او تطبیق په موخه وهڅوي.

### په چیلي او ارجنټاین کې د بومی خلکو د حالت په اړه د موندنو خپرول

د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې، د بومی خلکو د بشري حقونو د وضعیت او اساسی ازادیو په هکله خاص راپور ورکونکی په چیلي کې د بومی خلکو د حقونو په تړاو په یوه ویډیویې کنفرانس کې خبرې وکړې. دا ویډیو کنفرانس د جنوبي امریکا لپاره په یوه وخت د چیلي هیواد په پنځو ښارونو کې د مدني ټولنې د فعالانو او د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د سیمه ییز دفتر په ملاتړ نشر شو. په خپله وینا کې، خاص راپور ورکونکی خپلې پایلې او ملاحظات لکه څنګه چې د هغه په راپور کې منعکس شوې تشریح کړل.

په ۲۰۱۲ کال کې، خاص راپور ورکونکي په ارجنټاین کې چیرې چې د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم د دې ویډیو کنفرانس کوربه توب کړی و، تجربه تکرار کړه.

[22] www.ohchr.org/EN/Issues/FreedomReligion/Pages/Visits.aspx

## مدني ټولنه څنګه کولای شي ګډون وکړي؟

◀ هیواد ته د سفر لپاره غوښتنې

- د اختیاراتو درلودونکو ته وړاندیز چې هغوي د خپل هیواد څخه د لیدنې په موخه غوښتنه وکړي او د لیدنې د ثابتولو او سم نېودلو د حق په توګه اضافي معلومات وړاندې کړي.
- د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر د مدني ټولنې لپاره د بریښنا لیک له لارې د راتلونکې ملاقات په اړه مطلع و اوسئ.
- د ملاقات د غوښتنو څخه د اطمینان حاصلولو په موخه د دولت او نورو اړوندو شریکباڼو سره مدافعه(د بیلګې په توګه، د پارلمان د غړو، او یا دیپلوماتیکو ماموریتونو).

◀ د تعقیبي لیدنو د ترتیب او مفاهمې په چارو کې ګډون.

◀ د تعقیبي راپورونو لپاره د معلوماتو په برخه کې مرسته.

◀ د امکان په صورت کې د تعقیبي غونډو وړاندیزول، په هغو کې ګډون او د هغو د تنظیم د چارو سره مرسته.

## د مکاتبې تعقیب

د مکاتبو ګډ راپورونه د ټولو ځانګړو نهادونو له خوا په هره منظمه ناسته کې د بشري حقونو شورا ته وړاندې کیږي. د مکاتبو راپورونه په کال کې درې ځله خپریږي چې په دې کې د هغو ادعاوو لنډې خلاصې شاملې دي کومې چې د اړوند هیواد د استازې یا نورو نهادونو سره شریکې شوې. د مکاتبو متن لیږل شوی او د حکومت غبرګونونه د هایپرلینک له لارې د لاسرسي وړ دي. ځانګړي نهادونه کولای شي د یوې قضیې د کومې په اړه چې لا د مخه معلومات لیږل شوي اضافي معلومات تر لاسه او په هغو غور وکړي. اضافي معلومات معمولا د ورته سرچینې لخوا چاچې اضافي معلومات سپارلې برابریږي. په ۲۰۱۲ کال کې،ځانګړو نهادونو په ۲۱ سلنه قضیو کې د مکاتبو په اړه اضافي معلومات تر لاسه کړي.

ځانګړي نهادونه کولای شي هغه وخت تعقیبي معلومات ولیږی کله چې پرمختګونه د یوه نوې فعالیت تضمین وکړي. د یو شمیر زیاتو تعقیبي مکاتبو بنسټ پر اضافي سپارل شویو معلوماتو ولاړ دی. په ۲۰۱۲ کال کې، ۳۱ سلنه مکاتبې تعقیبي مکاتبې وو.

د هیواد څخه د لیدنو پر مهال او همدارنګه د اړوندو هیوادونو د استازو سره د دیپلوماتیکو سلا مشورو له لارې تعقیبي ارتباطات را منځ ته کیږي. په یو شمیر نمونه یې قضیو کې ځانګړي نهادونه کولاشي خبر پاڼې خپرې کړي.

د ارتباطاتو په اړه تعقيب د اختياراتو د درلودونکو د کلنې راپورونو په برخه کې د ملاحظاتو له لارې ترلاسه شوی. ملاحظات زياتره په يوه هيواد کې د راپور ورکولو د مودې پر مهال د بشري حقونو په جريانونو او نمونو او همدارنګه د انفرادي قضيو په شمير پورې اړه لري.

### د سوله ييزې اجتماع او انجمن د ازادي د حقونو په اړه د خاص راپور ورکونکي د ملاحظاتو راپور

په ۲۰۱۰ کال کې د نومو‌ړي د ماموريت د پيل څخه راهيسې، خاص راپور ورکونکي د ملاحظاتو دوه راپورونه چمتو کړې په کومو کې چې هغه د بشري حقونو د خاصو سرغړونو د دوسيو په هکله په اندېښنو ټينګار کړی، په تيره بيا د دولت لخوا د ځوابونو په رڼا کې د ارتباطاتو په هکله.

### د اجبارې توقيف په اړه د کارې ډلې ډيټابيس

د کارې ډلې ډيټابيس په ۲۰۱۱ کال کې پيل شو،د اجبارې توقيف په اړه د کارې ډلې ډيټابيس د خيرنې په موخه يوه عملي وسيله ده چې هدف يې د ۱۹۹۱ کال را هيسې د کارې ډلې لخوا د اتخاذ شويو نظريو څيړل دي. ډيټابيس د نظريو د کيفيتي او کميتي تحليل لپاره اسانتياوې برابروي او کولای شي د اجباري توقيف د قربانيانو، مدافع وکيلانو او نورو سره مرسته وکړي څوک چې غواړي کارې ډلې ته د ادعا شوې اجباري توقيف دوسيې وسپاري.[23]

د اجبارې لا درکه کيدو په اړه د قضيو تعقيب

د اجبارې لا درکه کيدو په اړه کارې ډلې د اشخاصو د کورنيو او اړوندو دولتونو تر منځ د ارتباطاتو د يوه چينل د را منځ ته کولو په هدف کوښښ کوي. هر ډول مهم اضافي معلومات چې سرچينې يې د يوې مهمې قضيې په اړه سپارې هغه اړوند دولت ته انتقاليږي. کارې ډله د لا درکه شوي شخص د ځای ځايګي په تړاو سرچينې ته د دولت غبرګونونه وړاندې کوي او د سرچينې څخه بلنه کوي څو ملاحظات او اضافي توضيحات برابر کړي. که چيرې سرچينه د شپږو مياشتو په دننه کې ځواب نه وايي، قضيه تصفيه شوې شميرل کيږی. قضيې تر هغو چې تصفيه نه شي، دوام نه مومي يا و نه تړل شي، پرانيستې پاتې کيږي. کارې ډله هر اړوند دولت ته په کال کې يو وار د نا تصفيه شويو قضيو په تړاو او په کال کې درې ځله د ټولو اړينو قضيو چې د وروستۍ ناستې را هيسې انتقال شوې يادونه کوي. تر ممکنه حده او د غوښتنې په صورت کې، کارې ډله د خاصو قضيو په اړه دولت او سرچينې ته تازه معلومات برابروي.[24]

---

23 www.ohchr.org/EN/Issues/FreedomReligion/Pages/Visits.aspx


24 د نورو معلوماتو لپاره د کارې ډلې د کارکولو بيا کتل شوې ميتودونه وګورئ (A/HRC/10/9, Annex 1).

## مدني ټولنه څنګه ګډون کولای شي؟

- د دې په خاطر چې د وضعیتونو او اندیښنو په اړه اګاهي تر لاسه کړی په منظمه توګه د ارتباطاتو د راپورونو چیک کول
- د دې په خاطر چې د قضیو په اړه لا زیات نور معلومات را غونډ شي، د محلي، سیمه ییزو، ملي او نړیوالو شبکو په دننه کې په پراخه کچه د راپورونو خپرول
- د مثبتو او منفي پرمختیاوو په اړه د تازه معلوماتو سپارل کوم چې د پخوانې مکاتبې سره تړاو لري
- د دولت د غبرګونونو بیا ارزونه او خاصو نهادونو ته د اړوندو تبصرو لیږل
- د خاصو نهادونو اختیاراتو درلودونکو سره د هغوی د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د ټیمونو له لارې د منظمو اړیکو را منځ ته کول؛ او
- د اړوندو خاصو نهادونو دا بریښنا لیک **urgent-action@ohchr.org** او یا عمومي بریښنا لیک وکاروئ. په لاندې پته د خاصو نهادونو لارښود د لاسرسي وړ دی:

**http://goo.gl/5goNL**

### په ۲۰۱۲ کال کې د سیمې پر اساس د ارتباطاتو مکاتبه او تعقیب



## د موضوعاتی راپورونو تعقیب

د یوه معیاري فعالیت په حیث، خاص نهادونه د بشري حقونو شورا یا عمومي اسامبلې ته د خپلو کلنیو عمومي راپورونو د وړاندې کولو او بحث کولو په خاطر پیښې تنظیموی یا په هغو کې ګډون کوي. کیدای شي دا د شورا د ناستو یا نورو ورکشاپونو او کنفرانسونو پر مهال د څنډې پيښې وي. د مطبوعاتي پاڼو صادرول یا د ویب پاڼو له لارې د معلوماتو خپرول او د راپور د موضوعاتو په هکله د کنفرانسونو دایرول یو عادي فعالیت دی. نړیوالې موضوعاتي ورځې شايي هغه فرصتونه وي چې د بشري حقونو د مسايلو په هکله کوم چې په موضوعاتي راپورونو کې تر بحث لاندې نیول شوي، د رسنيو پام راواړوي.

### هغه ابزار چې بنسټ یې پر ویب ولاړ دی: د مذهبې چارو او عقیده یې ازادیو په اړه د قوانینو خلاصه او د شکنجې پر وړاندې د مبارزې نوښت

**د مذهبې چارو او عقیده یې ازادي په اړه د قوانینو خلاصه**

۲۰۱۱ کال د مذهبې چارو او عقیده یې ازادي په اړه د خاص راپور ورکونکی د ماموریت د را منځ ته کیدو ۲۵مه کلیزه لمانځئ. د مذهبې چارو او عقیده یې ازادي په اړه د قوانینو خلاصه د څلورو ماموریت درلودونکو نهادونو په ملاحظاتو او سپارښتنو کوم چې د ۱۹۸۶ کال راهیسې دندې ترسره کوي، پیل شوه. د قوانینو خلاصه د مدافعې، معارف او تحقیق د یوې وسیلې په حیث طرح شوې، په دې خلاصه کې د ۱۹۸۶ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې د ماموریت د راپورونو اقتباسونه کوم چې د موضوع پر اساس کتګورۍ شوي، شامل دي.[25]

**د شکنجې پر وړاندې د مبارزې نوښت**

په ۲۰۱۳ کال کې، د شکنجې په اړه خاص راپور ورکونکي یو آن لاین پلاټفورم پیل کړ چې په دې کې د مطبوعاتي بیانیو، مرکو، کنفرانسونو، استماعیه غونډو، او د هیواد د لیدنو په اړه د تعقیب او د موضوعاتي راپورونو په اړه د رسنيو د پوښښ سربیره او د ټولو موضوعاتي، د دولتي او ملاحظاتي راپورونو په شمول د تعقیبي فعالیتونو په اړه معلومات شامل دي.[26]

## مدني ټولنه څنګه کولای شي ګډون وکړي؟

- د موضوعاتي راپور د موضوع په هکله د بشري حقونو د شورا د غونډو پر مهال د څنډې د لیدنو تنظیمول[27] او په هغو کې ګډون.
- د مدني ټولنې د فعالانو د فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه د موضوعاتي راپورونو موندنو او سپارښتنو ته ارجاع(د بیلګې په توګه، مدافعه، د ظرفیت را منځ ته کول، د پوهاوي د کچې لوړول او نظارت)

25 www.ohchr.org/EN/Issues/FreedomReligion/Pages/Standards.aspx

26 http://antitorture.org

27 د څنډې د لیدنو تنظیمول تر هغو انجوګانو پورې کومې چې مشورتي موقف ولري، محدود دي.

## 4.5 نړیواله دوره یي بیا کتنه

د نړیوالې دوره یي بیا کتنې لومړنی پړاو د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې کله چې د ملګرو ملتونو ټولو غړو هیوادونو د بیا کتنې پروسه سر ته ورسوله ،بشپړ شو. د بیا کتنې د دوهم او ورپسې پړاو پر مهال، هیوادونه اړ دي څو د لومړنۍ بیا کتنې د سپارښتنو د تطبیق په موخه د نیول شویو اقدامونو او همدارنګه د نورو پرمختګونو په اړه معلومات برابر کړي. د دې سربیره، د نړیوالې دوره یي بیا کتنې په اړه د اجنډا د۶ فقرې لاندې کیدای شي د بشري حقونو د شورا د ناستو پر مهال تازه معلومات وړاندې شي. هیوادونه او انجوګانې کولای شي د موقتي راپورونو، شفاهي او لیکل شویو بیانونو له طریقه تازه معلومات وړاندې کړي.

### په کولمبیا کې د نړیوالې دوره یي بیا کتنې د تطبیق په اړه د بشري حقونو شورا ته راپور ورکول

د کولمبیا د حقوق پوهانو کمیسیون د ۶ فقرې لاندې، کومه چې د نړیوالې دوره یي بیا کتنې ته اختصاص شوې د عمومي خبرو اترو پر مهال د بشري حقونو شورا ته په منظم ډول تازه معلومات ورکوي. د دغو معلوماتو له لارې، د کولمبیا د حقوق پوهانو کمیسیون د د نړیوالې دوره یي بیا کتنې د سپارښتنو د پلي کولو په برخه کې د کولمبیا د دولت لخوا د تر لاسه شوي پرمختګ په اړه معلومات برابروي.

### مدني ټوله څنګه کولای شي ګډون وکړي؟

- کله چې معلومات سپارئ او موخه مو د شریکانو د راپور په خلاصه کې د هغه ځایول وي، نو مهمه ده یوه داسې تحلیل ته ځای ورکړئ څو جوته کړي چې دولت د لومړۍ پړاو سپارښتنې پلې کړي او که نه.
- د مدني ټولنې فعالان کولای شي بررسې کونکو هیوادونو ته د تطبیق په اړه د دولت د پرمختګ په باب د هغوي د تحلیل په هکله اطلاع ورکړي، په خاص ډول هغو هیوادونو ته چا چې د لومړنۍ ارزونې پر مهال سپارښتنې تنظیم کړیدي.
- د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیز شورا (ECOSOC) په مشورې سره انجوګانې کولای شي د اجنډا د ۶ فقرې لاندې لیکلي او شفاهي بیانونه وکاروي او د بشري حقونو شورا ته یې وړاندې کړي او د پرمختګونو او ننګونو په اړه په هغو هیوادونو کې چې د نړیوالې دوره یي بیا کتنې سپارښتنې تطبیق کوي تازه معلومات برابر کړي.

په دغو ارګانونو کې، د مدني ټولنې د ګډون په هکله د لارښود لپاره د مدني ټولنې د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر کتابګوټې ته – د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرام سره کار کول او د نړیوالې دوره یي بیاکتنې په اړه عملي لارښود ته مراجعه وکړئ.[28]

[28] په دې پته د لاسرسي وړ ده: www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages/CivilSociety.aspx

## د نړیوالې دوره یې ارزونې په اړه د تعقیب وسایل

د نړیوالې (UPR-INFO) د غیردولتي موسسې د اسانتیاوو د برابرولو، ترویج او د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د سپارښتنو د تطبیق او نظارت په موخه ابزار برابرکړي. په خاص ډول:

- هغه تعقیبي پروګرامونه چې د لومړۍ دورې څخه دوه کاله وروسته د سپارښتنو تطبیق ارزوي(د منځنې کچې د تطبیق ارزونه) او د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د دوهمې دورې لپاره د هغوي په ملي پروګرامونو کې د تطبیق په اړه د هیواد د اطلاعاتو سره د لومړۍ دورې د سپارښتونو او ژمنو پرتله.
- د تطبیق په هکله د لارو چارو څیړنه هغه اطلاعات او معلومات ارزوي کوم چې د تعقیبي پروګرامونو له لارې جمع اوري شوي او د ټولټال ۶۵۴۲ سپارښتنو له جملې څخه د ۳۲۹۴ سپارښتنو تطبیق ارزوي کوم چې ۶۶ هیوادونو ته راجع کیږي.
- د مدني ټولنې لپاره تعقیبي ټولګه پنځه وړاندیز شوي عملونه تشریح کوي: ۱. په عام ډول د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د سپارښتنو او ژمنو خپرول، ۲. د تطبیق د چارو پلانول، ۳. د دولت سره په ډیالوګ کې ښکیلتیا چې موخه یې د تطبیق په چارو کې ګډون دی، ۴. د تطبیق د چارو نظارت؛ او ۵. د تطبیق په اړه راپور ورکول.[29]

د **The Organization internationale de la Francophonie (OIF)** موسسې د نړیوالې دوره یې بیا کتنې د سپارښتنو او ژمنو د تطبیق په هکله یو عملي لارښود خپور کړی. دا عملي لارښود په اصل کې د هیوادونو لپاره په نظر کې نیول شوی، دا لارښود د تعقیب او تطبیق په چارو کې د هغوي د ظرفیتونو په دننه کې د دولت د شریکباڼو په حیث د مدني ټولنې د فعالانو په شمول د نورو شریکباڼو په اړه هم دی. دا لارښود د تطبیق د یوه پلان له مخې په لسو پړاونو کې د پلې کولو په موخه د تعقیب وړاندیز کوي.

1. د اړوندو معلوماتو را غونډول
2. په موضوعاتو کې ځایول
3. د ټمې وړ عملونو او پایلو پیژندل کوم چې د سپارښتنو څخه را پیدا کیږي
4. د تطبیقي اقداماتو پیژندل
5. د هر سکټور لپاره د یوه متحد روش اتخاذ
6. د هیواد په کچه د تطبیق په موخه د مسولیتونو ټاکل
7. په ملي کچه د تطبیق کونکو شریکباڼو پیژندل
8. د تطبیق په موخه د یوه زماني چوکاټ را منځ ته کول
9. په نړیواله کچه د ظرفیت جوړولو او تخنیکي مرستو د اړتیاوو او تطبیقي شریکباڼو پیژندل
10. د تطبیق په موخه د تعقیب او ارزونې د ستراتیژي جوړول.[30]

---

[29] www.upr-info.org/followup

[30] www.francophonie.org

## 5.5 هر اړخیز روش

په دې برخه کې، تعقیبي طرزالعملونه او هغه فعالیتونه چې د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې را منځ ته شوي د دې لپاره په جلا ډول وړاندې کیږي څکه چې د دوي تر منځ ورته والی موجود دی، او د هر میکانیزم منفرد خصوصیات جوړوي. مهمه ده یو وار بیا ټینګار وشي که چیرې تعقیبي چارې په ښه او شاملونکې توګه ترسره شي نو دا به ډیرې موثره پایلې ولري، په کومه ذریعه چې د بشري حقونو د بیلابیلو میکانیزمونو سپارښتنې یو بل تقویه کوي او د پلې کولو په لور د هغوي پوتانسیل اعلی درجې ته رسوي. د دغه لارښود دریيمې برخې ته مراجعه وکړئ.

## 6.5 غچ اخیستنې

د بشري حقونو په ډګر کې د هغو انفرادي کسانو او ډلو په وړاندې غچ اخیستنې څوک چې غواړي د ملګرو ملتونو، د هغوي د استازو او د بشري حقونو په ساحه کې د میکانیزمونو سره همکاري کوي یا یې همکارې کړي وي د بشري حقونو د سرغړونو څخه شمیرل کیږي. کیدای شي غچ اخیستنې هغه وخت چې کله مدني ټولنه وغواړي د تعقیبي فعالیتونو په چوکاټ کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د میکانیزمونو سره همکارې وکړي را منځ ته شي.

د بشري حقونو د شورا ۲/۱۲ شمیرې پریکړه لیک عمومي منشي ته دنده سپارلې څو شورا ته د ادعا شویو غچ اخیستنو په اړه د هغو کسانو په وړاندې څوک چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د میکانیزمونو سره همکاري کوي داسې کلنی راپور وړاندې کړي چې په هغه کې په لیکل شوې بڼه د اطلاعاتو را غونډولو او تحلیل ته او همدارنګه د هغو سپارښتنو په اړه چې په څه ډول د تهدید او انتقام مسلو ته ځواب و وایې ځای ورکړل شي.[31]

د غچ اخیستنو د قضیو سربیره او د شورا سره د همکارې په حواله، ځانګړې نهادونه او د تړون ارګانونه، د هغوي د تعقیبي طرزالعملونو او فعالیتونو په شمول، راپور ښایي هغه غچ اخیستنې کومې چې د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر ، په ساحه کې د هغوي د شتون او د بشري حقونو د کارپوهانو، د ملګرو ملتونو هیواد د کچې د ټیمونو، د سوله ساتو ماموریتونو د بشري حقونو د عنصرونو او داسې نورو سره تړاو ولري، احتوا کړي. په پخوانیو راپورونو کې د قضیو په اړه شامل تعقیبي معلومات هم مناسب دي.

کیدای شي د هغو انفرادي کسانو په وړاندې غچ اخیستنه واقع شي چا چې:

- د همکارۍ د غوښتلو په صورت کې یا د ملګرو ملتونو، د هغوي د استازو او د بشري حقونو په ډګر کې د میکانیزمونو، یا د هغو کسانو سره همکارې چا چې دوي ته شاهدي یا معلومات برابر کړي؛

[31] د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۱ کلونو لپاره A/HRC/21/18 and A/HRC/18/19 وګورئ

- د بشري حقونو او اساسي ازاديو د ساتنې په موخه د ملګرو ملتونو تر حمايت لاندې د را منځ ته شویو طرزالعملونو په ارزښت پوه او ترې ګټه پورته کړي، او/یا یې د دې هدف په موخه حقوقي او نورې مرستې برابري کړي؛
- د بشري حقونو د نهادونو په واسطه د را منځ ته شویو طرزالعملونو لاندې د معلوماتو سپارل او یا یې هغه سپارلي او/یا یې د دې هدف په موخه حقوقي او نورې مرستې برابري کړي؛
- د بشري حقونو د سرغړونو قربانیان د انفرادي کسانو یا د هغو کسانو چا چې قربانیانو ته حقوقي او نورې مرستې برابرې کړي، خپلوان دي؛

د عمومي منشي د راپور له طریقه په عامه توګه د غچ اخیستنې د قضیو خپرول ښایي ښې ساتنې ته لار هواره کړي. ځکه نو، په عام ډول د ځرګندولو خطرونه هم باید په ښه توګه و ارزول شي. د دې دلیل لپاره، په دې راپور کې یواځې هغه قضیې د کومو په تړاو چې اړوندو انفرادي کسانو د هغوی د دوسیې د نشر کولو لپاره خپل رضایت ښودلی، شاملې دي.

د دې لپاره چې د غچ اخیستلو په اړه معلومات وسپارئ، مهرباني وکړئ په لاندې پته اړیکه ونیسئ:
**reprisals@ohchr.org**

## 6. زيات څه زده کړئ

- د بشري حقونو د عالي کميشنر د دفتر ويب پاڼه:

www.ohchr.org

- د مدني ټولنې لپاره د بشري حقونو د عالي کميشنر د دفتر اسناد د ملګرو ملتونو په ۶ رسمي ژبو په لاندې پته د لاسرسي وړ دي

www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages/CivilSociety.aspx

- د نړيوالو بشري حقونو شاخصونه:

http://uhri.ohchr.org

- د بشري حقونو لپاره نړيوالو خدمتونو او د بشري حقونو د قانون مرکز، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د سپارښتنو داخلی پلې کيدل- د بشري حقونو د مدافعينو او طرفدارانو لپاره لارښود، په لاندې پته موجود دی:

www.ishr.ch

- د UPR-Info تعقيبي اسناد په لاندې پته موجودې دي:

www.upr-info.org/followup

- د IOF موسسې د ۲۰۱۳ کال د نړيوالې دوره يې بيا کتنې په اړه عملي لارښود په لاندې پته د لاسري وړ دی:

www.francophonie.org

- **د قضاوت څخه تر عدالت پورې- د بشري حقونو نړيوالې او سيمه ييزې پريکړې تطبيق کوي،** ۲۰۱۰ او همدارنګه **د حقونو څخه تر اصلاح او چاره لټولو پورې: د نړيوالو بشري حقونو د پريکړو د تطبيق لپاره جوړښتونه او ستراتيژي ګانې**، ۲۰۱۳، په لاندې پته د لاسرسي وړ دي:

www.opensocietyfoundations.org

- ويب کاستينګ/انټرنيټي خپرونې
  - **د ملګرو ملتونو انټرنيټي ټلويزيون:**

http://webtv.un.org

- د تړون د ارګانونو ناستې:

www.treatybodywebcast.org

- د ناروغ د روغتيا پالنې په برخه کې د بشري حقونو په اړه د شاغل شخص لارښود:

http://health-rights.org/

- د CRC د ملاحظاتو د خلاصې په اړه د تعقيبي فعاليتونو د قضيې څېرنه:

www.childrightsnet.org/NGOGroup/CRC/FollowUp/

- د اجباري توقيف په اړه د کاري ډلې ډيټابيس:

www.unwgaddatabase.org/un/

- د مذهبې چارو د ازادي يا عقيدې په اړه د قوانينو ټولګه:

www.ohchr.org/EN/Issues/FreedomReligion/Pages/Standards.aspx

ځينې انجوګانې د بشري حقونو د ځانګړو ميکانيزمونو سره له نږدې کار کوي. دا انجو ګانې د هغو ميکانيزمونو سره د مدني ټولنې د فعالانو د ښکيلتيا په موخه اسانتياوې برابروي او د هغو ملاتړ کوي او همدارنګه کولای شي لارښود او ملاتړ برابر کړي.د دغو انجوګانو يو شمير په لاندې ډول دي:

- د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق لپاره د سياسي او مدني حقونو مرکز(CCPR مرکز)
- د ماشوم د حقونو د ميثاق لپاره د ماشوم د حقونو شبکه
- د معيوبيت نړيوال ايتلاف(IDA) د معيوبو کسانو د حقونو په هکله د کميټې لپاره
- د معيوبو کسانو د حقونو په هکله د کميټې لپاره د نژاد پرستي(IMADR) او د تبعيض د ټولو بڼو په وړاندې نړيوال حرکت
- د کډوالو کارګرانو د نړيوال ميثاق ( CMW) لپاره د کډوالو کارګرانو د کنوانسيون په هکله نړيوال پلاتفورم (IMPWC)
- د شکنجې په وړاندې د کنوانسيون لپاره د شکنجې د قربانيانو لپاره د اعتبار د اعادې نړيواله شورا (IRCT)
- د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو په اړه کنوانسيون لپاره په اسيا-اقيانوسيه کې د ښځو د حقونو د نړيوال عمل څار (IWRAW)
- د نړيوالې دوره يې بيا کتنې لپاره د نړيوالې دوره يې بيا کتنې معلومات.

## 7. زموږ سره اړیکه ونیسئ

د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر د مدني ټولني سره په لاندې پته اړیکه ونسئ:
civilsociety@ohchr.org

تیلفون: 9656 917 22 (0)41+

د مدني ټولنې لپاره د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر د بشري حقونو کتابګوټی او عملي لارښود په عربي، چینایي، انګلیسي، روسي او هسپانیوي ژبو په آن لاین بڼه په www.ohchr.org/en/AboutUs/Pages/Civil Society.aspx د لاسرسي وړ دي.

د مدني ټولنې د بریښنالیک د انتشار سیستم د بشري حقونو د ټولو ماموریتونو، میکانیزمونو او همدارنګه وجهی صندوقونو، اعانو او فیلوشیپونو لپاره معلومات او د عریضو د ضرب العجل نیټې برابروي. د اشتراک کولو په موخه د مدني ټولنې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.
http://goo.gl/O8snt

د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر د دفتر د ۲۰ کليزې لمانځل

«مدني ټولنه د تيرو شلو کلونو په پرتله نن سبا د بشري حقونو د يو شمير نورو فعالو ملي سازمانونو او د بشري حقونو د مدافعينو سره يو ځای په تدريجې توګه پراخه شوې. دغه سازمانونه او انفرادي کسان بشري حقونو ته نوې سا ورکوي: هغوي د بدلون ترويج کونکي دي، هغه کسان دي څوک چې د سرغړونو، کمزورې قانون جوړونې او استبداد په اړه د خطر زنګ وهي. دغه عملي لارښود د بشري حقونو لپاره د عالي کمشنر د دفتر ۲۰ مه کليزه لمانځي او د مدني ټولنې هغو فعالانو ته ډالۍ شوی څوک چې په ټوله نړۍ کې د بشري حقونو د ترويج لپاره کار کوي.»

ناوي پيلي
د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنره

د ۲۰۱۳ کال اکتوبر

Made of paper awarded the European Union Eco-label, reg.nr FI/11/1, supplied by UPM.

د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود

**د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سپارښتنې څنګه تعقيب شي**

د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر
Palais des Nations
CH 1211 Geneva 10 Switzerland
تيليفون: 00 90 917 22(0)41+
فکس: 08 90 917 22(0)41+
www.ohchr.org

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر

20 YEARS WORKING FOR YOUR RIGHTS 1993 WORLD CONFERENCE ON HUMAN RIGHTS